که غوارئ د سولې او پخلاینې دره
بېرته اوسي، اوربند ټینګ کړئ

# اوربند

شماره چهاردهم و پانزدهم. ۱/ دلو/ ۱۳۹۷

ORBAND

Ceasefir...

14th & 15th ...




# د ولسمشر تاریخي بدنامي (ډیورنډ کرښه)

هر هغه چا ته چې تاریخي بې ننګي ورغاړې شي تر قیامت پورې به دغه طوق لعنت د هغه په غاړه کې پروت وي، تاریخي شرم داسې یو تور داغ او ناوړه بدنامي ده، که د یو هېواد ولسمشر یا د هېواد کوم بل لوړپوړی چارواکی یو ځل بدنام شو، نو په هېڅ صورت به خپله بد نامي پاکه نه کړای شي، تر څو دا نړۍ وي دده نوم به په بده یادېږي...

## پدې ګڼه کې...



- د ولسمشر غني تاریخي بدنامي (ډیورنډ کرښه)
- دولس ګرامه مالغزه؛ د جګړو د کلونو محکم
- د نشه يي توکيو د قاچاق د مخنيوي لپاره...
- سر پې هوري په دمغان لم بي الک دی
- څنګه کولای شو مثبت فکر وکړو؟
- دروغجنو ژمنو، هېواد بحراني کړ
- چې دا دعا ده که ښېرا؟!!
- موجبات بیماری روانی
- د ژوند ورې لاربنوونې
- سوله مو تجربه کړې؟
- مردم، خشمګین اند!
- د قصه خوانی مړی
- د بلاګانو مباشت
- د نوماند منطق
- سیکولاریزم




# سړکونه ملي نوامیس دي

سړکونه بنایي بوازنۍ قیمتي بخښینا وي چې د ډېرې لړې نه پاملرنې له کبله له منځه ځي او دا بوازینی بخښینا یا زېربینا ده چې تقریباً د ټولنې هر فرد ترې ګټه اخیستی شي.
په نوره نړۍ کې د یوه کیلومتر سړک د جوړولو قیمت له ۳.۵ میلیون ډالرو تر ۵.۴ میلیون ډالرو پورې (د سړک پراخوالي ته په کتو) تخمینېږي. بنایي په افغانستان کې هم د یو کیلومتر سړک د جوړولو قیمت د ۳ میلیونه ډالرو شاوخوا وي، نو اوس تاسې اټکل وکړئ چې زموږ سړکونه څومره قیمتي سرمایه ده او موږ څومره ماشومانه چلند ورسره کوو..!


ioglobal
Internet Services Through FiberOptic
Wireless Communication...
Data Center Engineering and Design
IT Infrastructure Solutions
Storage Solutions
High-Availability
Web-based Information Solutions
House No. 1151, Mayoris Street on Sherpur Main Roa...
+93 (0) 20 22 13 21 - 4 | info@io--global.com | www.i...

ORZALA NATURALS

Between Street 1 & 2, Taimani Main Road, Kabul, Afghanistan
Kart-e-4, Next to Allama Higher Education Institute | 0799143113

Good Life Fitness & Gym

...حمد یار د تیلو پمپ ته څېرمه، د سلیمانخیل پلازې وروستی پوړ.
0786179129 - 0778065...

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوربند

پينځلس ورځنۍ

رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَـلَداً آمِناً

شمارهٔ چهاردهم و پانزدهم، ۱/ دلو/ ۱۳۹۷


**بسم الله الرحمن الرحيم**

## سرليکنه

### ملي فريضه

سړکونه د عام المنفعه ځايونو په سر کې راځي. د سړکونو ساتنه، پرې پاملرنه او سمه جوړونه د ملي نواميسو برخه ګڼلی شي...
زموږ په هېواد کې د سړکونو رغول او ساتل له لويه سره ستونزې لري. لومړی د سړکونو په جوړولو کې د سړک جوړولو پروژې داسې شرکتونو ته ورکول کېږي، چې يو مخ يا د سړک جوړولو سابقه نه لري او يا سړک په داسې بڼه جوړوي، چې عمر يې د کلونو پرځای ايله يو څو مياشتې وي...
په نورو هېوادونو کې د سړک جوړولو تر څنګ د سړکونو څارنې او بيا بيا د خرابو شويو ځايونو د جوړولو ځانګړې ټيمونه وي، وخت پر وخت د سړکونو څارنه او بيا کتنه کوي او که اړتيا وي، اړوند چارواکي پرې خبروي او د سړک د خرابو شويو او يا له خطر سره مخ شويو برخو غم خوري...
دا چې د هر کيلو متر سړک پر جوړولو ميليونونه ډالر لګېږي، پکار ده له لومړي سره د سړک جوړولو پروژه داسې شرکتونو ته ورکړل شي، چې تر ټولو ښه ګرنټي، ښه نرخ او د سړک جوړولو سابقه ولري...
زموږ په هېواد کې تر دې دمه تر ټولو ښه جوړ شوي سړکونه، هغه سړکونه دي چې بهرنيو شرکتونو ساز کړي دي، پاتې نور چې د عمر ګرنټي يې پينځلس يا شل کاله وي، په يو څو کلونو کې له منځه تللي او بيا رغولو ته سخته اړتيا لري، چې له بده مرغه زموږ چارواکي هم د سړک په جوړولو او هم يې په ساتلو کې خورا بېغوره دي...
د سرکار تر څنګ ولس هم د سړک ساتلو پوره پوره مسووليت لري. دلته چې سړک جوړ شي، په هره کوځه کې د هر کور مخې ته غټ جمپ جوړ کړي، يا د کور ټولې اوبه سړک ته را وباسي، دا په داسې حال کې چې جمپونه سړک خرابوي، ځکه له هر بريک نيولو سره پر سړک بوج راځي او ددې خطر پيدا کوي، چې له جمپونو سره نږدې سړک کښني او يا کندې پکې جوړې شي. بل اوبه سړک له منځه وړي، چې له بده مرغه دلته دې ټکي ته هېڅوک پام نه کوي، د سړکونو پر سر موټر شوياني جوړوي، د کور اوبه عمومي سړکونو او عمومي کوڅو ته را باسي او په ډېره لږه موده کې سړک له منځه وړي... بله ستره ستونزه د بار وړونکيو موټرو د وزن نه کنټرول دي، چې پدې برخه کې د چارواکيو بېغوري ستر خيانت او د ملي عام المنفعه پروژو د له منځه وړلو په معنا دي...
پدې هيله چې هم چارواکي او هم ولس ددې سترو ملي عام المنفعه ځايونو په ساتنه او رغونه کې ونډه واخلي...


## نيوليک


سړکونه ملي نواميس دي/ ۲
د نوماند منطق/ ۳
د ولسمشر غني تاريخي بدنامي (ډيورنډ کرښه)/ ۴
موجبات بيماری روانی/ ۵
د قصه خوانی مړی/ ۷
څنګه کولای شو مثبت فکر وکړو؟/ ۷
د نشه‌يي توکيو د قاچاق د مخنيوي لپاره د دريو ګاونډيو هېوادونو شريکه مرسته/ ۸
سيکولاريزم/ ۹
سر يې هوري په دمغان لم يې اټک دی/ ۱۰
سوله مو تجربه کړې؟/ ۱۰
مردم، خشمگين اند!/ ۱۱
د بلاګانو مياشت/ ۱۲
دروغجنو ژمنو، هېواد بحراني کړ/ ۱۳
چې دا دعا ده که ښېرا؟!!!/ ۱۴
د ژوند وړې لارښوونې/ ۱۴
دولس ګرامه ماغزه؛ د جګړو د کلونو محک/ ۱۵



## اوربند

د تلپاتې سولې لومړی ګام
اوربند؛ د ملي جرګې يواځېنی شرط دی
اوربند؛ د روغې جوړې پيلامه ده
اوربند؛ د جګړې مخنيوی دی
اوربند؛ ملي غوښتنه ده
اوربند؛ د هر افغان غږ دی
اوربند؛ د هرې مور هيله ده
اوربند؛ ملي اړتيا ده
اوربند؛ ټيکاو دی
اوربند؛ د سوکالۍ لوری دی
اوربند؛ د بسيايني لار ده
اوربند؛ د پرمختګ اساس دی
اوربند؛ ژوند دی
اوربند؛ له مرګ سره مبارزه ده
اوربند؛ د بربادۍ مخنيوی دی
اوربند ټينګ کړئ، له اوربند سره کېنئ، پر اوربند راټول شئ.


امتياز



افغانستان
چلوونکي
افغانان



خپرندوی
دانش خپرندويه ټولنه

اړيکي
۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱ - ۰۷۰۰۶۳۹۳۸۳

برېښليک
spinsahaar@gmail.com

بيه
۲۰ ؋

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سړکونه ملي نواميس دي

نبي ساحل- نوی زیلاند

**لویې لارې او سړکونه په اقتصادي لحاظ د انسان د وجود د رګونو هومره اهمیت لري. د سړکونو جوړولو مسیرونه د اقتصادي سرچینو د نښلولو، نفوس، د سرحدونو او ښارونو نښلولو او هوایي ډګرونو او ښارونو نښلولو د اهمیت له مخې ټاکل کېږي.**
**د افغانستان تقریباً د ټولو سړکونو د مسیرونو انتخاب، ډیزاین او نقشه د ټولواک محمد ظاهر شاه په دوره کې شوې ده، چې د جوړولو پروسه یې په تدریجي ډول پرمخ تللې، بیا ړنګ شوې او بېرته رغول شوې دي...**

په هېواد کې د نوي پیل سره سم چې نړیوالو بې ساري مالي مرستې وکړې، د هېواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره موږ د دومره زیات شمېر قیر یا سفالت سړکونو خاوندان شو. له بده مرغه لکه په ټولو برخو کې چې موږ د سیستم د نه درلودلو او نه مدیریت له ستونزو سره مخ یو، د سړکونو د تنظیم او مدیریت تشه هم خورا ژوره ده.

سړکونه ښايي یوازنۍ قیمتي بېخبینا وي چې د ډېرې لرې نه پاملرنې له کبله له منځه ځي او دا یوازینۍ بېخبینا یا زېربینا ده چې تقریباً د ټولنې هر فرد ترې ګټه اخیستې شي.

که له افغانستان سره دا نړیوال سخاوت نه وای، ښايي زموږ څو نسلونه د ثبات او قوي اقتصادي حاکمیت له لرلو سره سره پدې نه وای توانېدلي چې په دومره پیمانه سړکونه سفالت کړي، خو له بده مرغه داسې ښکاري چې دا ستره ملي سرمایه او ملي ناموس موږ پاللی او ساتلی نه دی.

په نوره نړۍ کې د یوه کیلومتر سړک د جوړولو قیمت له ۳.۵ میلیون ډالرو تر ۵.۴ میلیون ډالرو پورې (د سړک پراخوالي ته په کتو) تخمینېږي. ښايي په افغانستان کې هم د یو کیلومتر سړک د جوړولو قیمت د ۳ میلیونه ډالرو شاوخوا وي، نو اوس تاسې اټکل وکړئ چې زموږ سړکونه څومره قیمتي سرمایه ده او موږ څومره ماشومانه چلند ورسره کوو.

کېدای شي ځینې کسان ناامني یا د مخالفینو لخوا سړک ویجاړول یو دلیل وګڼي، له بده مرغه نه یوازې مخالفین، بلکې د حکومت کمکارۍ او د ولس بېغورۍ د سړکونو اوسنۍ حالت له جدي ګواښ سره مخ کړی دی. په ټوله کې زموږ ولس له عامه تاسیساتو سره هسې چلند نه کوي، څه وړ چې ورسره ښايي. ښه مې یاد شي، د کابل د کمپنۍ او میرویس میدان سړک چې جوړېده، د شپې لخوا به د سړک چم ګاونډ اوسېدونکیو له سړک څخه رېګ په لاسي کراچیو کې خپلو کورونو ته غلا کاوه، دا زموږ د ښاري هېوادوالو له عامه تاسیساتو سره د مینې بېلګه ده، په کلیو او لرې پرتو سیمو کې به مونو څه حال وي؟!

ولس ته له ملي شتمنیو سره د مینې او د هغو د ساتنې روحیه ورکول بېل او یو ضروري بحث دی. له بده مرغه زموږ دا مینه پاکستاني برانډ اسلام او جهاد له منځه یووړه، راځم بېرته خپلې موضوع ته چې دولت د سړکونو په ساتلو کې ولې بې غوري کوي.

له استثنا پرته په ټولو هېوادونو کې د سړکونو ساتنې لپاره منظمې سروې ډلې وي. هغوی د ځانګړې موټرو (Radar Portal Systems RS۳) په واسطه په ډېر لوړ کیفیت د سړک ټکی پر ټکي سروې کوي او په اتوماتیک ډول د سړک ډېټا کمپیوټر ته لېږدوي. په دغې ډېټا کې د سړک څرنګوالی په تفصیل او وضاحت سره څرګندېږي چې اړوند اداري دغه رپوټ ته په کتو د یاد سړک د ترمیم او که اړتیا وي د بیا رغونې پلان او بودیجه جوړوي.

هغه هېوادونه چې ددې ډول وسایلو اقتصادي وړتیا نلري، هغوی بیا په منظم ډول په هرو شپږو میاشتو کې یو ځل د هر سړک سروې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدغه سروې کې بیا هم له یو شمېر کوچنیو تخنیکي وسایلو څخه استفاده کوي او د سروې انجنیران ډېر په دقت سړک له یوه سره تر بله معاینه کوي. د سړک چاودې، د سړک څنډې، د اوبو او سېلاوونو زیانمنې برخې، احتمالي زیانمنېدل، د پېښو له کبله زیانمنېدل او نور څېړي او رپوټ یې برابروي. د همدغه رپوټ پر بنسټ ورته د رغونې او که اړتیا وي د بیا رغونې پلان او بودیجه برابرېږي. په همدغه رپوټ کې د سړکونو ترمیم د لومړیتوب پر بنسټ پیلېږي، چې ځینې یې بیړنیو اقداماتو، ځینې یې پاملرنې او ځینې یې څو کاله وروسته پاملرنې ته اړتیا لري.
د سړکونو منظمې پالنې او ساتنې یوه اقتصادي بېلګه دلته را اخلم. دا بېلګه د (Multnomah County) د ۲۰۰۲ز کال له رسمي رپوټ څخه را اخلم.
دا عادي سفالت شوي سړکونه تر پنځلسو کلونو پورې عمري لري، تر دې ور هاخوا د خرابېدو خوا ته ځي. یو سړک چې دوه لینه دی، د یوه مایل یو لاین د جوړولو قیمت یې په هغه کال شپږ سوه زره ډالر اټکل شوی و. که یاد سړک په یاد پراخوالي او اوږدوالي تر لسو کلونو په کم عمر کې یو ځل ترمیم شي یوازې نوي زره ډالر لګښت پرې راځي او که همدغه چاره تکرار شي په شلو کلونو کې به یو سل او اتیا زره ډالر لګښت پرې راغلی وی. دا لګښت تر پنځوسو کلونو پورې دوه سوه شپږ اویا زرو ډالرو ته رسېده، خو بلخوا که خارنه یې نه وای شوې او ترمیم یې نه وای شوی، په یاد سړک به ۶۰۰ زره ډالر لګښت راتلو چې دا د ترمیم هغو تر دوه چنده زیات لګښت دی.
اوس یې نو تاسې خپله اندازه لګوئ، که موږ د خپلو سړکونو نظارت، ساتنه او پالنه په مسلکي ډول ونکړو ډېر زر به د ځینو برخو سړکونو له سره بیا جوړولو ته اړ شو او بیا به میلیونونه ډالره پرې لګوو چې ښکاره خبر ده دا پیسې نلرو. همدا اوس د کابل- کندهار سړک جدي ترمیم ته اړتیا لري، که پاملرنه ورته ونشي دغه ستره ترانزیتي لار به له سره بیا رغول غواړي.
ډېر کوچني لګښتونه د ډېرو سترو لګښتونو مخه نیولای شي. که د ټولګټو وزارت فعال وای او په ابتدايي وسایلو سمبال یو سروې ټیم یې درلودای، نن به زموږ د سړکونو دا حال نه وای.

# د نوماند منطق

حفیظ الله تراب

(طنز)

په نازک حسین باندې هغه شپه د کال غونډې اوږده تېره شوه، خو چې اخر پرې خدای سبا کړه، نو له نورو ورځو مخکې ټلوېزیون ته لاړ، د پوښتنو په جوړولو لګیا شو، خو د هغه د زړه ټوپونه هله ارام شول، چې کمره وال ملګری یې کوټې ته ورننووت. لږه شېبه کې یې ملګري د مرکې سامان تیار او د ټلوېزیون په موټر کې سپاره شول.
نازک حسین ته په زړه پورې دا وه، چې سږکال د جمهوري ریاست چوکۍ ته یوه موچي هم ځان نوماند کړی و. سره له دې، چې په یاد کسب کې ورته د شرم کومه خبره نه ښکاره کېده، خو حیران په دې و، چې (د چرګ یې د مالګې له ختلو سره څه؟!)
نیم ساعت به لا نه و تېر شوی، چې د پرونیو معلوماتو په مټ یې د جمهوري ریاست د نوماند ځای پیدا کړ. هغه فکر کاوه، چې مرکه به ورسره په کور کې کوي، خو د هغه هیښتیا لا پسې هله ډېره شوه، چې نوماند صیب پخپله لویه غرفه کې ناست او یوه لویه ربړي موزه یې -چې د کابل ختو په پوره بې عدالتۍ شکولې وه- ګنډله.
له نېکه مرغه غرفه لویه وه. تر سلام او مقدماتي خبرو وروسته، نوماند صیب -چې یو قواره دار او په غوښو پټ انسان و- مرکې ته ځان تیار او هغه ترې وپوښتل:
- که د ځان تر پېژندنې وروسته پر خپلو پخوانیو کاري تجربو رڼا واچوئ، خوښ به شم!
- نوم مې بلبل شاه، د پوځ پخوانی متقاعد ډګروال یم. د خپل پېنځه شلوېښت کلن ماموریت په دوران کې مې د ذرې هومره خیانت نه دی کړی، تر خپله توانه مې د خلکو او هېواد خدمت کړی، دولس کاله کېږي موچیتوب کوم او له دې لارې مې د ژوندانه کشتۍ د نامعلومه راتلونکي ژوند په څپو کې روانه ده.
- تاسې د موچیتوب خبره وکړه، ډګروالي او موچیتوب! دا خو یو له بله ډېر سره لرې دي، دا کار مو ولې پیل کړ؟
- خبره دا ده، چې لسیزې وشوې په دې هېواد کې قانون نشته، سړی او نه سړی معلوم نه دی، بلکې د هغو انسانانو باداري او بدماشي روانه ده، چې نه یې تاریخ معلوم و او نه هویت، نو په داسې ګډوډۍ کې حالاتو مجبور کړم، چې موچیتوب پیل کړم، حال دا چې په خپل مسلک کې لوړې زده کړې لرم.
- ډګروال صیب! تاسې ډېر په زړه پورې انسان یاست، خو زما د مرکې کولو اصلي موخه دا ده، چې دا رښتیا ده، چې تاسې جمهوري ریاست ته هم ځان نوماند کړی دی؟
- هو دا سمه ده او تاسې هم باید حیران نشئ.
- حیراني مې په دې ده، چې تاسې به له دې موچیتوبه لس لکه افغانۍ څنګه پیدا کړې وي، دا خو لږې پیسې نه دي؟
- ستاسې دا اندېښنه پر ځای ده، خو د پښتو هغه اصطلاح ده، چې د ډېرو امسا د یوه ګېډۍ. په اوس وخت کې په ټول هېواد کې څه باندې دوه لکه تعلیم یافته ځوانان دي ته مجبور شوي، چې موچیتوب وکړي، د هغوی له پېنځو پېنځو روپیو، لس لکه افغانۍ جوړې او دا ستونزه مې حل شوه.
نازک حسین: ډېر ښه، خو له تاسې سره دا فکر څنګه پیدا شو، چې له موچیتوبه یو ناڅاپه د جمهوري ریاست ټاکنو ته ودرېږئ؟
- دا مو ښه پوښتنه وکړه، خبره دا ده، چې زما کله هم دا زړه نه و، چې دا کار دې وکړم، خو دوستانو او نورو ډېرو خلکو دې ته وهڅولم، چې باید دا کار وکړم. همدارنګه یوه شپه مې نور نوماندان سترګو ته ودرېدل، خدای شته ډېر پکې داسې دي، چې یوه لکۍ نه لري، نور پوره دي. ځینې خو پکې هغه مشهور غله، غلامان، ککړان او د پردیو داسې مزدوران دي، چې په ټوله دنیا کې به یې ونه مومې. رښتیا خو دا ده، چې له داسې غبیانو، غاصبینو او بې شرمو انسانانو نه راته خپل ځان ډېر وړ ښکاره شو. زړه کې مې وویل، چې د انصاف له مخې په علمي لحاظ او د خدمت له کبله تر ډېرو نوماندانو بلبل شاه موچي ښه دی.
دا سمه ده، چې د اوس لپاره زه یو موچي یم، خو باور وکړئ، چې ددې خلکو تر خیانتونو، غلامۍ، بېسوادۍ او بې رحمۍ هغه زړه کلوشه، چې په خوا کې دې پرته ده، ډېره غوره او بې ضرره ده.
نازک حسین: یره نوماند صیب! والله که دې یوه خبره هم غلطه وي، خو ستاسې په اند آیا تاسې به دا ټاکنې وګټئ او مرستیالان مو څوک دي؟
- بالکل. که د حرامیتوب، ډالرو او د کمېسیون د خیانتونو خبره نه وي، نو باور وکړئ، چې نور د هېواد خلک تر داسې نوماندانو بلبل شاه موچي سل ځله غوره ګڼي. دا هغه خلک دي، چې هر افغان یې ددې هېواد لپاره تر یوه لوی عذاب کم نه ګڼي، په دوی کې ډېر داسې دي، چې د شرم په نامه څه نه پېژني او حتی خپل اخلاقي پساتونه ورته هم عادي او مشروع کارونه ښکاري، نو چې داسې وي، داسې خلکو ته د هېواد او خلکو عزت هم ارزښت نه لري، ځکه نو له اوسه زه خپل ځان بریالی ګڼم. زما دوه مرستیالان دي، چې یو یې یو خواریکښ نداف او بل هم یو قبرکن دی، چې پخپل ټول ژوند کې یې نه د چا ناموس ته بد کتلي او نه یې هم په ښارونو کې کوم بیلډېنګ جوړ کړی او نه هم د کوم بهرني هېواد غلامان دي.
- دا سمه ده، چې مرستیالان به مو سپېڅلي خلک وي، خو د حکومت د چلونې لپاره لږ تر لږه زده‌کړې هم اړینې دي، ستاسې د حکومت دا چارې به څوک پر مخ وړي؟
- وروره! چارې خو هسې هم لاندې خلک پر مخ وړي، پاتې شوه، د تعلیم خبره، نو په اوسنیو نورو نوماندانو کې ډېری داسې دي، چې جعلي اسناد یې جوړ کړي، خو په عمل کې د بنکاک تر پیشوګانو هم لوی غله، قاتلان او د خدای په ټول قهر ککړ انسانان دي. تر داسې بني آدمانو خو هغه نالوستي ښه دي، چې زیان یې چا ته نه رسېږي، زما مرستیالان به نالوستي وي، خو لږ تر لږه هېواد پلورونکي او خاینان خو نه دي کنه!!
نازک حسین: ستاسې هره خبره او روان منطق مو زما په زړه راننوت، قسم په خدای تاسې تر داسې خلکو زر ځله ښه یاست، باور وکړئ، چې زما ووټ د بلبل شاه موچي دی، نه د ځینو داسې خاینانو، چې په لیدو یې هر افغان ته کانګې ورځي او تاسې ترې زر ځله شرف لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ولسمشر غني تاریخي بدنامي

# (ډیورنډ کرښه)

محمد انور اځر

**چې څوک ټاپ درپسې وکړي، سره ټک وهي لاسونه**
**دا ژوندون دی مردن نه دی، که دې وشي مردن هسې**
**خوشال بابا**

**هر هغه چا ته چې تاریخي بې ننګي ورغاړې شي تر قیامت پورې به دغه طوق لعنت د هغه په غاړه کې پروت وي، تاریخي شرم داسې یو تور داغ او ناوړه بدنامي ده، که د یو هیواد ولسمشر، یا د هیواد کوم بل لوړپوړی چارواکی یو ځل بدنام شو، نو په هېڅ صورت به خپله بد نامي پاکه نه کړای شي، تر څو دا نړۍ وي د ده نوم به په بده یادېږي، زموږ په ګران هېواد، لوی افغانستان کې ډېر داسې پاچاهان او لوړپوړي چارواکي تېر شوي دي چې د خپلو ډول، ډول ناوړو کړنو له امله یې په تاریخ کې نومونه په بده ثبت دي چې له هغو څخه، هغه پاچاهان چې د هیواد سپیڅلي خاوره یې، د خپلو ځاني ګټو او اړتیاوو په موخه، په پردیو باندې پلورلي ده په تاریخ کې د تل لپاره په ناوړه نومونو باندې یادېږي، د لوی افغانستان سپیڅلې خاوره، چې د لوی احمد شاه بابا د هڅو او کوښښونو په پایله کې، د افغانستان په نوم یې یو موټی هېواد رامنځ ته کړ...**

له بده مرغه چې د لومړي ځل لپاره د احمدشاه بابا نا اهله لمسي، شجاع الملک لخوا واک ته د رسیدو په موخه د لوی افغانستان ختیځې سیمې سکانو ته، د لاهور د درې اړخیز تړون پر بنسټ ورکړل شوې. (أنګرېزان، شاه شجاع او سکان، ۱۸۳۸ز) چې د هند انګرېزي کمپنۍ د خپلو ګټو په موخه لوی لاس په کې درلود.
نوموړي پاچا د خپل دغه ناوړه عمل له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړ او ورسره یې لویه تاریخي بدنامي هم خپله کړه، په هیواد کې د شاه شجاع نوم تر هغې پورې سپک شو، چې لوستي پلرونه یا د کورنیو مشران د شاه شجاع یا دې ته ورته نومونو باندې خپل زامن نه نوموي، که بیا هم د کوم سړي یا ماشوم نوم شاه شجاع وي نو په اوریدلو سره یې دغه خاین پاچا شجاع الملک وریادیږي خو بیا هم که د کوم ماشوم نوم د شاه شجاع نوم ته ورته وي نو د خپلو همځول لخوا زورول کیږي، خاین، د هندوانو او انګرېزانو د ګوډاګي او یا د نورو سپکو سپورو سره مخ وي، چې یوه ښه بېلګه یې زموږ د سترګو لیدلی حال دی: هغه مهال چې موږ ماشومان وو، زموږ په ښوونځي کې یو هلک چې د پنځم ټولګي زده کوونکی ؤ د خپلې کورنۍ له خوا د شجاع الدین نوم پرې ایښودل شوی ؤ، نوموړی چې پخپله هم شوخ هلک ؤ، د ښوونځي هلکانو به د شجاع الدین پر ځای شاه شجاع، د انګرېز بچی او غلام بللو، کنځلې او بدې ردې خبرې یې ورته کولې، چې په پای کې یې پلار اړ شو، ترڅو د خپل زوی نوم واړوي او له هغه ښوونځي څخه یې بل ښوونځي ته بدل کړ.
د لوی افغانستان یو بل پاچا چې د هیواد خاوره یې له لاسه ورکړې ده د امیرشېرعلي خان زوی، سردار محمدیعقوب خان ؤ، نوموړی ناروغ، نیمه لیونی او د انګرېزانو په لاس کې اسیر پاچا ؤ چې د انګرېزانو له خوا په زور اړ شو، د ګندمک ناولی تړون لاسیک او د هیواد ختیځې سیمې، (سربېره پر هغو سیمو چې شاه شجاع سکانو ته ورکړې وې) انګرېزانو ته ورکړې.(۱۸۷۹ز کال د مې میاشتې ۲٦ نېټه.)
د افغانستان له بدنامو او وطن پلورونکو پاچاهانو څخه بل تن سردار عبدالرحمن خان دی، چې وروسته له شاه شجاع او امیر محمد یعقوب خان څخه یې د لوی افغانستان ځینې سیمې، واک ته د رسیدلو، د خپل واک د ساتلو او د اتلسو لکو روپیو په بدل کې پر انګرېزانو باندې خرڅې کړې، د کابل تړون یې له انګرېز ډیورنډ سره لاس لیک کړ.(۱۸۹۳ز) د دغه تړون له امله ده چې امیر عبدالرحمن خان داسې تاریخي بدنامي خپله کړه چې هېڅکله به له دغې بې ننګۍ څخه خلاص نه شي او نه به څوک د ده دا تور داغ ورپاک کړی شي.
عبدالرحمن خان په ۱۳۱۹، ه، ق کال کې له دې نړۍ څخه تېر شو... [د ده د خپلې کورنۍ او خپلو بریځو پرته] نورڅوک یې پر مرګ باندې خواشیني نه وو او ټولو د ده پر مرګ باندې خوشحالی کولې، تر هغې چې یوې ډلې کسانو د نوموړي پاچا پر مړیستون پسې اور واچولو...



(میرغلامحمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ٦۹۹ مخ)
د امیرعبدالرحمن خان مړیستون د کابل د زرنګار په پارک کې دی او یوه ښکلې ودانۍ یې پرې جوړه کړې ده څوک چې د دغې ودانۍ څخه تېرېږي او د ده ترهګریزي کړنې او د ډیورنډ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاینانه تړون څخه خبر وي د دعا پر ځای ښیرا او حتا زیاړي(کنځل) ورته کوي.
اوس مهال ځلورم کس زموږ مفکر ولسمشر اشرف غني دی چې خپل راتلونکي تاریخ ته متوجه نه دی او د خپلې بې پروایۍ او بې مسوولیتۍ له امله، خپل تاریخ د شاه شجاع او عبدالرحمن خان په شان ناولی کوي، دا به سمه خبره وي که ووایو چې له پورته یادو ملي خاینو څخه به هم، ښاغلی غني په تاریخ کې په ناوړه نوم ثبت شي، داسې چې:
۱ـ دا چې شاه شجاع سکانو ته د لوی افغانستان یوه برخه خاوره ورکوله، په دې موخه وه چې له محمدزیو څخه د خپل پلار نیکه پاچاهي تر لاسه کړي او کله چې ځواکمن شي له سکانو څخه د لوی افغانستان خاوره او نوري تر لاس لاندې سیمې او ورسره د کوه نور الماس چې د سکانو مشر رنجیت سنګ په ناځوانۍ او غدارۍ ورڅخه اخیستی ؤ بیا ترلاسه کړي. (دیوان امرنات اکبري: ظفرنامه رنجیت سنګ، لاهور چاپ،۱۹۲۸ز)
۲ـ دا چې امیر محمدیعقوب خان د ګندمک تړون لاسلیک کړ، د لیونتوب پر ناروغۍ اخته او هم د انګرېزانو په لاس کې اسیر او ناچار پاتې ؤ.
۳ـ د امیر عبدالرحمن خان موخه دا وه تر څو وکړای شي پاچاهۍ ته ورسیږي او خپل واک د انګرېزانو پر پوځي او مالي ملاتړ باندې وساتي.
دا وې د پورته تاریخي بدنامو پاچاهانو موخې او مجبورۍ چې د لوی افغانستان خاوره یې په منځ باندې نیمه کړه او د افغان ملت نسلونه، نسلونه یې له لویو تباهیو سره مخ کړل.
اوس به راشو زموږ د مفکر ولسمشر تاریخي مسوولیت ته چې له تېرو خاینو پاچاهانو څخه یې مسوولیت لا هم زیات دی، داسې چې: مفکر صاحب د پورته ذکر شویو پاچاهانو په شان موخې او مجبورۍ نه لري، نه د شاه شجاع او امیرعبدالرحمن خان په شان پاچاهۍ ته رسیدلی شي او نه هم د امیر یعقوب خان غوندې لیونی او نه هم د انګرېزانو له بچې، پاکستان سره اسیر دی.
زموږ مفکر ولسمشر یوازې د غفلت په خوب ویده دی تر دې چې که ډولونه ورته ووهې بیا به هم ویښ نه شي او کله چې څوک ویده وي هغه د ډیورنډ له کرښې چې عملاً کار پرې روان دی څه خبریږي او نه د ده په ډله کې داسې څوک شته چې ولسمشر له خوبه ویښ، خپل تاریخي مسوولیت ته یې متوجه کړي، سالمې مشورې ورکړي او له تاریخي بدناميو څخه یې وژغوري، یوازې دا چې د ده نږدې کسان تل د خپلو شخصي ګټو لپاره هلې ځلې کوي، که وطن اوبه هم یوسي دوی یې په کیسه نه دي، د ولسمشر غني د ملي وحدت حکومت ؟ داسې جوړښت لري چې یوه ورځ په یوه غونډه کې ښاغلي استاد اسمعیل یون د یو مسلمان شوي انګرېز ملا او د هغه له مقتدیانو سره پرتله کړ، ده وویل:« د اشرف غني د ملي وحدت حکومت! دا ډول جوړښت لري، لکه د انګرېز جان بټ مقتدیان: جان بټ چې د بي، بي، سي راډیو پخوانی خبریال ؤ او وروسته مسلمان شو، خلکو ته یې د لمونځونو امامت پیل کړ، ملاصاحب جان بټ خپل مؤذن (بانګ کوونکی) یو تن پخواني خلقي ټاکلی ؤ، د تکبیر ویلو لپاره یې یو کس پرچمي غوره کړی ؤ او مقتدیان یې ټول بې اودسه وو او بې اودسه یې لمونځونه ورپسې کول.»
د ښاغلي اشرف غني په کابینه کې داسې څوک نه شته چې د پاکستان د ای، اس، ای د ترهګرو پلانونو پر وړاندې وړ پالیسۍ او طرحې جوړې او پلي کړي، نو ځکه خو د پاکستاني استخباراتو ټول پلانونه د ننه په افغانستان کې په بري



سره پلي کیږي، چې له ټولو څخه مهم پلان یې د ډیورنډ کرښې پر لیکه باندې د اغزنو تارونو غځول دي، چې په نتیجه کې یې د لوی افغانستان وروسته له (۱۲٦) کاله څخه په عمل کې د پنجابیانو لخوا دوه ټوټې کیږي، پنجابي پوځ په خپل سر بې له دې چې له چا وړاندې شي په ډاډه زړه، د نړیوالو قوانینو پر خلاف، د ډیورنډ پر کرښه(چې له آره، آزاده کرښه ده) اغزن تارونه غځوي، تر دې چې انګرېزانو هم په نوموړې کرښه باندې دا ډول یو جانبه کار نه دی ترسره کړی، په لومړیو کې امیر عبدالرحمن خان له انګرېزانو سره د کابل تړون د شپږمې مادې پر بنسټ د یو ګډ کمیسیون پر وړاندې د کرښې په ځینو سیمو کې نښې ولګولې، خو وروسته چې امیر خپل تاریخي ګناه ته متوجه شو، نو د کرښې په نښه کولو څخه یې په بېلا بېلو پلمو باندې ځان یوې خوا او بلې خوا کولو چې تر نن پورې هم نوموړې کرښه په مکمله توګه نه وه په نښه شوې.
سره له دې چې پاکستانیان د بین المللي پرېکړو له مخې د انګرېزانو میراث خواره او ځای ناستي نه شي کیدلی، خو فرضاً که داسې وبولو چې، پنجابیان ځانونه د انګرېزانو زامن او میراث خواره بولي(!!)، بیا هم د کابل د تحمیلي تړون د شپږمې مادې او د بین المللي سرحدي قوانینو پر بنسټ، هېڅ هیواد نه شي کولی د ډیورنډ کرښې په شان پر جنجالي پولو باندې یو اړخیز کار وکړي.
له بده مرغه چې زموږ مفکر ولسمشر او ډله ټپله یې (لکه بُت په غټو سترګو دم ختلی) په غټو، غټو ورته ګوري، نه یې د ملګرو ملتونو محاکمو ته شکایت وکړ، نه یې په امنیت شورا کې غږ پورته کړ او نه یې د کرښې پر سر باندې پنجابیان وډزول، لکه دوی چې په کنړ کې زموږ کلي بې له کوم دلیل څخه هره ورځ په توپو ولي او وړاندې راځي.
موږ له آره په دې باندې پوهیدلو چې ولسمشر له کوزو پښتنو او ډیورنډ کرښې سره چندان علاقه او دلچسپي نه لري، لکه چې ټول پوهیږو مفکر صاحب د خپل بې ځواکه واکمنۍ له پیل څخه تر اوسه پورې په دې وروستیو کې، یو ځل د ډیورنډ کرښې په تړاؤ، د پکتیا ولایت په ګردېز کې، چې د پولیسو د شهیدانو فاتحې ته تللی ؤ، تشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوايي خبري(ډزې) وکړې، وړاندې له دې يې د ډيورنډ او کوزو پښتنو او بلوڅو په هکله يوه خبره ترخولې نه ده وتلې، په دې باب د افغان جرمن پورتال د تبصرو په درشه کې ښاغلى عبدالکريم رحيم چې ځان د ولسمشر غني ټولګي وال (هم صنفي) بولي داسې ليکلي دي:« زه اشرف غني د مکتب د وخت نه پيژنم. ډېر کلونه زما همصنفی و. کرکټر يې هم راته معلوم دی. په دی هم خبريم چی په مکتب کی دی د باچا خان مخالف و او اوس هم د سپنتا صاحب په وينا دی د پاکستان موقف ته متمايل نظر لری».

مونږ ښاغلي غني ته دا وايو چې له تشو او بې عمله خبرو او چغيدلو نه څه نه جوړيږي چې له ډېر زور څخه دې د حنجرې غږ هم تغيير وکړي او ځوک نه شته چې درته ووايي: خپل احساسات کنټرول کړه، خلک درپورې خاندې!.

يو څوک چې د خپل ګاونډي شخصيت ونه پيژني، دا مانا لري چې هغه کس د سالم فکر خښتن نه دی، تاريخ ثابته کړې ده چې پاکستانی پوځ يو بې زړه او ډارن پوځ دی، له هند سره يې په ټولو جګړو کې شرموونکې ماتې خوړې دي او له مونږ سره يې په تېرو څو ورو، ورو نښتو، (تورخم، سپين بولدک او نورو) کې وښودله چې پنجابی پوځ يو بې مورالە، دال خور او مړی خور پوځ دی، ومو ليدل چې د سپين بولدک په وروستۍ جګړه کې يې زغره وال ګاډي په ځای پرايښودلي وو او ځانونه يې په منډه خلاص کړل.

په وسواس په نامردۍ په وهم وېره
لا په زړه به وي ګـيدړ تر ده زړه‌ور
خوشال بابا

دوی به هېڅکله هم زمونږ سره د اوږدې مودې لپاره جګړه ونه کړای شي، که احياناً پاکستانيان زمونږ پر وړاندې ودريږي، افغانان په پوره ميړانه لکه چې تاريخ ثابته کړې ده جګړې او قربانيو ته چمتو دي، مونږ افغانان د ننه په خپلو کورونو او ښارونو کې، د پاکستانيانو له لاسه هسې بې نتيجې او بې مانا وژل کيږو، نو ښه به دا وي چې له دښمن سره په جګړه کې نر په نره شهيدان شو.

کشکې ځوان د پښتانه په ننګ کې مړ وای
نـه چې ګور لـره روان شو له تـلـتکه
خوشال بابا

که مونږ په لومړيو کې له پاکستان سره مخامخ جګړيدلي وای، نو دا لوی شمېر افغانان چې له تېرو څلورو لسيزو راپه دېخوا وژل شوي دي نه به وو، وژل شوي او په لږو تلفاتو سره به د لوی احمد شاه بابا اصلي پولو ته رسيدلي وو، په دې بنسټ مونږ ولسمشر غني ته لاندې وړانديزونه وړاندې کوو، نو که عمل يې پرې وکړ، له تاريخي بدناميو به ځان وژغوري او د يو رښتني ملي اتل نوم به وګټي او که عمل يې پرې ونه کړ هغه تاريخي داغ چې تر ده وړاندې نورو ملي خاينينو ګټلی دی، دی به يې هم تر لاسه کړي:

۱ـ دفاع وزارت دې د کرښې هغه سيمې چې د پنجاب لخوا کار پرې روان دی او له کرښې راوړاندې شوي دي، د هوايي، توپچي او راکټي بريدونه لاندې راولي.

۲ـ ملي امنيت او نورو کشفي ادارو ته دې دنده وسپارل شي، چې د پنجابيانو د کار مخه، د خپلو پټو او ښکاره عملياتو له امله ډب کړي، په ځانګړې توګه د کرښې دواړو غاړو پښتنو او بلوڅو ورونو سره دې کار وشي...

۳ـ کشفي او استخباراتي ارګانونه دې داسې وړ او پاروونکي، هڅوونکي اوپراتيفي(سل ډوله) عمليات ترسره کړي، چې له امله يې غربيان او امريکايان اړ شي، د پنجاب پر وړاندې مخامخ او نامخامخ پوځي، سياسي، اقتصادي او ... جګړې پيل کړي.

۴ـ بې له ځنډه دې د ملګرو ملتونو امنيت شورا او اړونده عدلي محاکمو ته غوښتنليک وړاندې شي، پر پاکستان دې د خاورې دعوه وشي، د دعوې پرمخ بيولو لپاره دې يوه خوار ښه متخصصه ډله، چې په هغو کې لر او بر افغان حقوق پوهان، تاريخ پوهان، سياستوال او د دوستو هيوادونو کار پوهان ګډون ولري، تر څو وکړای شي د ملګرو ملتونو په محاکمو کې په ښه توګه خپله دعوه وچلول شي.

ټول پوهيږو چې د تاريخ په اوږدو کې په افغانستان کې له پرديو سره ټل ولسونه جګړيدلي دي، لويو، لويو امپراتوريو ته يې ماتې ورکړې دي، نو ځکه خو وايي(د ولس زور د خدای زور دی) په دې بنسټ زمونږ اتل ولس له پاکستان سره د جګړې لپاره ښه په خوښۍ سره چمتو دي، که ولسمشر زړه وکړي او په خپل اتل ولس باندې غږ وکړي وبه ګوري چې زمونږ ځوانان د جګړې ډګر ته د ډولونو او اتڼونو سره ورودانګي.

د پاکستان سره د دې جګړې ګټې به دا وي چې له يوې خوا به امريکايان او غربيان، له پاکستان سره په مخامخ پوځي، اقتصادي او سياسي جګړو او کشالو کې ښکيل شي او له بلې خوا د ملګرو ملتونو سازمان به د ډيورنډ کرښې مسله مهمه وبولي او جدي غور به پرې وکړي، دا جګړه به د ننه په پاکستان کې په لومړي ګام کې بلوڅان، پښتانه او سنديان د پنجابيانو پر وړاندې راپورته کړي، چې په پای کې به پاکستان تجزيه شي او نړۍ به د پاکستان د (ام، کيو، ام) ګوند د مشر، الطاف حسين په وينا، له دغه نړيوال ناسور او عذاب څخه آرامه شي. (ان شاء الله)

https://www.youtube.com/watch?v=IQgy1IV3uNY

https://www.facebook.com/Spogmai.Fm/posts/1210083302346606:0

هـغه ځوان چې د وطن په درد سوځيږي
که سـل ځله پر مخ لويږي پورته کيږي
ما ترې سل ځله قـربان او صدقه کړې
چې د مرګ پر پوله ناست وي لا خوځيږي
اکاډميسين سليمان لايق

# موجبات بیماری روانی

**موجبات یا علتهای بیماری روانی عبارتند از:**

۱. خرابی مغز.
۲. سرکوفتگی امیال (عقده روانی).
۳. گذشتن شدت میل از حدومرز کنترول.

و اینها نیز آدمی را بسوی بیماری روانی سوق می دهد.

۱. بیکاری کامل و زیاد.
۲. تنهائی زیاد و خیال.
۳. فقر وخرج زیاد با عدم اعتماد به خود وخدای خود.
٤. ممانعت همیشگی از بروز رازهای دل.
۵. حسادت زیاد.
٦. حرص زیاد.
۷. حوادث ناگوار پی در پی غیر منتظره .
۸. به ذهن آمدن پی در پی صحنه های ناخوش آیند و هول انگیز وخشم افزا.

یکی از چیزهائی که هم ممکن است موجب بیماری روانی شود و هم امکان دارد باعث بیماری جسمانی و احیاناً فلج و سکته و مرگ شود، مشاهده یا خبر امریا امور ناگهانی بسیار ناگوار وهیجان انگیز است. از دیگر چیزهای که در بعضی افراد سبب دیوانگی یا بیماری روانی می شود، بعضی از بیماریهای بدنی و نقص عضو است، و در بعضی افراد هم بیماری روانی ارثی است، هر چند که ارث هم خد دستخوش محیط است.

منظور از خرابی مغز، این است که یک قسمت از مغز یا تمام آن در اثر ضربه ای مخصوص یا در اثر چیزی دیگر صدمه دیده و نمی تواند کار خود را به خوبی انجام دهد و یا در اثر فرسودگی کارش مختل شده.

منظور از سرکوفتگی امیال این است که یک یا چند میل همیشگی هرگز نتوانسته اند ارضاء شوند، هر وقت ظهور کرده اند با توسری خوردن از محیط مجبور به عقب نشینی شده و به صورت عقده مشغول دارنده، یا آزار دهنده در آمده اند.

مقصود از گذشتن شدت میل از مرز کنترول، این است که گاهی ممکن است یک میل آنقدر شدت و قوت پیدا کند که گذشته از آنکه شدیداً همه امیال دیگر را تحت الشعاع خود قرار می دهد، قدرت جلوگیری از ارضاء آن از صاحبش سلب می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قصه خوانۍ مړی

جبران جبرانلي

**کله چې ژوند د تېره تېغ لاندې راشي نو د لوبې خوند پیکه او بدرنګ شي او د مصلحتونو لاندې ژوند تېرول هم بلا ډېر دروند کار دی، خو بې له دې چاره هم ناشوني ده. کله چې استقلال د هوسۍ په ښکر او فکري استقلال په زولنو وتړل شي نو سړی خوار پکي لکه د بامیانو د نړېدلیو بوتانو په څېر هک پک پاتې شي، نو د حیرانۍ له امله به سړي نه ورخ اوبه یوسي او معامله ګډه وډه شي او په ګډه وډه معامله کې خپله خبره کول او پخپله خبره درېدل د سقراط د زهرو جام شي او د سقراط د زهرو جام څښل هم د سقراط په څېر زړه او ځیګر غواړي...**

... په دې دروغجن چاپېرچل کې د نفرتونو دومره زهر شیندل شوي چې د شاتو په شیندلو هم د چا یقین نه راځي. دا د شکونو وطن دی او دلته په هره خبره شک کېدای شي او په هر چا شک کول دلته څه نوې خبره نه ده، ځکه کله کله په ځان هم شکي شم، ځکه دلته قبله بدلول او په فردوسي جام شونډې لګول د ورځې معمول دی، کله چې د امن او سولې خبرې شروع شي نو ځینې د جهاد مدعیان بیا د وینو غړغړې شروع کړي، ددې یارانو لپاره خو جنګ لنګه غوا ده چې غوا وچه شي کوچ او غوړې بند شي بیا نو ددې نازولیو ګوزاره ګرانه شي او بیا د غل د مور په څېر په غلا ژاړي. دوی خو تل د نورو په شر کې خپل خیر غواړي، وایي یو څه او کوي بل څه!

واعظان کز جلوه بر محراب و ممبر می‌کنند
چون به خلوت میروند آن کار دیگر می‌کنند

یوه بله خبره را یاده شوه، په خیبر بازار کې زما د یو مېز نږدې ملګري ښاغلي سلیم راز به ویل، په افغان جنګ کې د اسلام او مسلمان خبره یوه (دکهاوه) ده، اصلي خبره د مقام او د روپیو لاسته راوړل دي.

زه د راز صیب د خبرو په هکله په سرو زرو ګوزاره کوم، خدای ښښلي سیف الرحمن سلیم را څخه په یو بیت ځان خلاص کړی وه.

لاړه قـــافله هم د رهبر سره رهزنه شوه
دا معاشره جوړې د څېلمې بې ضمیره ده

دې مجهول حالت له ما هم لاره ورکه کړې. د موزېګې د شلېدلي کټ په څېر چې بازو یې تینګ کړم، لنګه یې وتښتي. که د سولې دا معامله لږه هم اخوا دېخوا شوه نو پور به یې دا خوبولی ولس پوره کوي. د جعل او تذویر داسې امامان به پیدا شي چې شیطان به ترې امان غواړي. درنو لوستونکیو!

زما ددې لیکنې پیمانه یواځې د ژوندي ضمیر خاوندان کولی شي.

دا زما ډېر ور، خدای وهلی سم کړتو خان دی، پرون یې راته وویل، د سولې په خبرو کې زموږ د مشرانو څه رول دی؟!

زه غلی شوم، ناڅاپه مې د شلو کالو یوه زړه سفر نامه مخې ته راغله، په ۱۹۹۹ز کال کې ښاغلي افراسیاب خټک، قدرمن آصف ضمیم، ګران نور الحبیب نثار او محترم ابراهیم همکار د پېښور پوهنتون یو څو استادان محصلین او محصلانې سره له جبرانه د یوه ورکشاپ په خاطر نتیاګلۍ ته مخه کړه. کله چې نتیاګلۍ ته ورسېدو نو د پېښور ګرمۍ او د نتیاګلۍ یخنۍ په زور هم خبر شولو. مازیګر مهال د لیلیې مسوول موږ ته معلومات راکول چې دلته هر راز ځناور شته، که مو مخې ته راغی تاسو ورته څه مه وایئ، تاسې ته هم څه نه وایي او که چېرته زمری هم مخې ته راغی ورته عمل به کوئ. نثار صیب پرې غږ کړ، که زمری راغی د هغه خوښه ده چې هر څه کوي، زموږ کوکې او خاموشي موږ ته ذره هومره هم خیر نشي را رسولی. ډېر ور ته مې وویل، څه چې د ځنګل د پاچا خوښه وي، هماغسې به کېږي.

اُف خدایه! ما خو خبره د قصه خوانۍ د مړي را نیولې وه، سر مې ځنګل ته ورسېد. د قصه خوانۍ بازار له یوې تنګې کوڅې نه ناڅاپه یو تابوت راووت. د جنازې څادر پرې هم غوړېدلی وه. هر چا ورسره د ثواب په نیت اوه- اوه قدمونه اخیستل او هر چا د بېوسۍ او خپګان مظاهره کوله.

مړی له چوکِ یادګار او فردوس سېنما نه ښه په هجوم کې راووت. د ثواب په نیت را وتلو خلکو مړی تر چارسدې اډې پورې را ورسولو، چې د چارسدې هدیرې ته ورسېدل، ګوري چې نه نوی قبر شته او نه هم قبر کیندونکی. را وتلیو خلکو مړی د بوتنۍ پُل ته ورسولو. هلته هم د چارسدې هدیرې په څېر نه قبر و او نه قبر کېدونکی. خلکو جنازه په ځمکه کېښوده.

یوه پکې غږ کړ، د مړي وارثان څوک دي؟! هر چا یو بل ته کتل، د وارث مارث پته نه لګېده، مړی خوار پر ځای پاتې شو او د ثواب په نیت را وتلي خلک بېرته خپلو ځایونو ته ستانه شول. معامله پولیسو ته ورسېده، پولیس د مړي د معلوملو لپاره قصه خوانۍ ته را ورسېدل، یو څو شېبې وروسته معامله ښکاره شوه چې یو چا خپل ملګری د پیسو لپاره وژلی، مړی یې تابوت کړی او خپله تښتېدلی دی.

په موږ خوارانو هم د قصه‌خوانۍ د مړي په څېر لوبې رواني دي. د قاتل ماتل پته مو نه لګېږي، په دې څلور لسیزو کې چې هر چاته نږدې شوي یو، په چړو یې وهلي یو او په زخمو یې راته مالګې دوړولې دي.

نن- سبا یو نوی څرک پیدا شوی، خدای دې وکړي چې د لغمان د چارباغ پخوانۍ اوسېدونکی او نننۍ زلمی خلیلزاد زموږ په زړو پرهرونو د مرهم پټۍ کېږدي او نور په دې ځورېدلي ولس کې د اور، وینو او بارودو لوبه ختمه شي.

زه خپله لیکنه د خپل بابا په دې شعر ختموم:

ګوندي وي چې بازي بیا را وچار وځي
همه‌ګي عالم ویل کا چې اوس بای ده

## څنګه کولای شو مثبت فکر وکړو؟

ډاکټر محسن حسن

دغه لړۍ سل لاربښووني لري، دلته به یې شریکوو، چې زموږ تاسې فکرونه مثبت شي!

۱ - کله چې غږېږئ باید مثبتې کلمې وکاروئ!

که تل ځانته وواياست چې «نشم کولای» نو ځان قانع کوئ چې په رښتیا ضعیف یم. باید وواياست چې په اسانۍ د یوه کار له عهدې وتلای شم او یا حد اقل خپل ټول زیار کاږم.

۲ - منفي فکرونه لېرې کړئ!

کله مو چې روحیه ضعیفه وي، نو منفي فکرونو او احساساتو ته اجازه مه ورکوئ چې ومو ځوروي. حتی ورځ کې یوازې څو ساعته منفي فکرونه له ځانه لېرې او د ژوند په مثبتو اړخونو تمرکز وکړئ.

۳ - هاغه کلمې او توري کاروئ چې ځواک و احساس مو را ویښوي!

تل زیار کاږئ چې خپل فکرونه په داسې کلمو بیان کړئ چې له هغو سره تاسې د خوښۍ او قدرت احساس لرئ او داسې وګڼئ چې ژوند مو خپل کنټرول کې دی. د هغو کلمو پر ځای چې د ماتې او بې کفایتۍ احساس درکوي په مثبتو کلمو تمرکز وکړئ.

**نور په بله ګڼه کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نشه‌يي توکيو د قاچاق د مخنيوي لپاره د درېيو گاونډيو هېوادونو شريکه مرسته

طارق عزیز

**د نشه‌يي توکيو بد اغېز هر چاته معلوم دی، خو سره له دې هم په نړۍ کې به داسې هېواد نه وي چې يو شمېر خلک يې په نشو نه وي اخته، خو بيا د ډېرو هېوادونو حکومتونو نه يوازې د نشه‌يي توکيو د ناقانونه کښت، بلکې د کارولو پر ضد يې هم ډېر گامونه پورته کړي. يو خوا که د نشه‌يي توکيو د ناقانونه کښت او قاچاق پر ضد په ټوله نړۍ کې عملي گامونه پورته کېږي، نو بلخوا موږ داسې مثالونه هم لرو چېرته چې د طبي مقاصدو لپاره د نشه‌يي توکيو کر قانوني گرځول شوی. د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر پاکستان، افغانستان او ايران هم غواړي نه يوازې د ناقانونه نشه‌يي توکيو کښت ختم کړي، بلکې غواړي ددې توکيو قاچاق هم بند شي...**

... په دې لړ کې درېواړو گاونډيو هېوادونو، پاکستان، افغانستان او ايران له افغانستان څخه د افيونو او د نورو نشه‌يي توکيو د قاچاق د مخنيوي لپاره د مرستې کولو او له يو بل سره د معلوماتو شريکولو پرېکړه کړې.

دې درې واړو هېوادونو دا پرېکړه د ۲۰۱۸ز کال په دسمبر کې د پاکستان په پلازمېنه اسلام آباد کې د يوې غونډې پر مهال کړې. په دې دوه ورځنۍ غونډه کې د پاکستان، افغانستان او ايران د نشه‌يي توکيو د مخنيوي ادارو لوړ رتبه چارواکيو گډون کړی و. دا درې اړخيزه غونډه د ملگرو ملتونو د نشه‌يي توکيو او د جرمونو د مخنيوي ادارې «يو اېن او ډي سي» په مرسته شوې وه. د ملگرو ملتونو دې نړيوالې ادارې په ۲۰۰۷ز کال کې ددې درېواړو گاونډيو هېوادونو تر منځ د مرستې او معلوماتو د شريکولو ميکانېزم معرفي کړی و. ددې ميکانېزم بنسټيزه موخه له افغانستان څخه د افيونو او نورو نشه‌يي توکيو د قاچاق مخنيوی دی. د اسلام آباد په غونډه کې درېواړو هېوادونو د نشه‌يي توکيو د قاچاق د مخنيوي لپاره په وخت د معلوماتو شريکولو او په دې لړ کې له مرستې زياتولو سره سره په هغو پولو په يو وخت کې د عملياتو کولو پرېکړه هم کړې، په کومو چې د نشه‌يي توکيو د قاچاق ورل روان دي.

د اسلام آباد دا غونډه داسې مهال شوې، چې د ملگرو ملتونو ادارې منلې چې په ۲۰۱۸ز کال کې د وچکالۍ او ټيټې بيې له لامله په افغانستان کې د کوکنارو په کر کې نږدې ۲۰ سلنه کمی راغلی.

په دې درې اړخيزه غونډه کې په پاکستان کې د يو اېن او ډي سي استازي سېزر گډېس وويل: «درې واړو گاونډيو هېوادونو په ۲۰۱۹ز کال کې د افيونو او نورو نشه‌يي توکيو د قاچاق د مخنيوي لپاره په لا ډېرو هڅو کولو اتفاق کړی.»

د سېزر گډېس په وينا، له دې درې واړو هېوادونو پرته د نړيوالې ټولنې لخوا مرستې زياتولو ته اړتيا ده، ځکه د نشه‌يي توکيو د مخنيوي کار يوازې ددې درې هېوادونو د وس خبره نه ده. د افغانستان د نشه‌يي توکيو د مخنيوي وزارت ډايرېکټر جنرال محمد عثمان فروتن وايي: «سږ کال په افغانستان کې ۸۹ سلنه افيون په هغو سيمو کې کرل شوي چېرته چې د ترهگرو او وسله‌والو فعاليتونه زيات دي». دی وايي، سږ کال افغان چارواکيو ۴۳۳ ټنه نشه‌يي توکي نيولي او د نشه‌يي توکيو د قاچاق په تور نږدې د څلور زره شکمنو کسانو پر ضد د هېواد د قوانينو له مخې عمليات شوي دي.

په افغانستان کې د کوکنارو کر او د افيونو او نورو نشه‌يي توکيو نړيوال مارکيټ ته قاچاق يوه نړيواله ستونزه جوړه شوې. ددې درې واړو گاونډيو هېوادونو تر منځ ددې ستونزې د مخنيوي لپاره مرسته او د معلوماتو شريکول يو ښه اقدام دی، خو تر څو چې د کوکنارو د کر او د افيونو د پيداوار لاملونو ته پام ونشي دا ستونزه به هواره نشي.

امريکې د تېرو ۱۷ کلونو په لړ کې په افغانستان کې د کوکنارو د کر پای او د نشه‌يي توکيو د مخنيوي لپاره افغانستان ته ۸ ميليونه ډالر بوديجه ورکړې، خو سره له دې هم د کوکنارو کر ختم نشو او نه په دې لړ کې کېدونکيو هڅو نتيجې ورکړې دي.

د نشه‌يي توکيو د مخنيوي لپاره له افغانستان سره د ملگرو ملتونو او اروپايي ايتلاف مالي مرسته له دې څخه علاوه ده. سره له دې چې د امريکې او نړيوالې ټولنې لخوا د کوکنارو د کر د خاتمې لپاره له افغان دولت سره مرستې شوې دي، خو بيا هم د کوکنارو کر او د نورو نشه‌يي توکيو کر لا هماغسې روان دی. داسې ولې کېږي؟!

د افغانستان د معيشت او بيا په خاصه توگه د کرکيلې په اړه په جاري شويو شمېرو کې ددې پوښتنې ځواب موندل کېدای شي. په افغانستان کې يوازې ۱۲ سلنه ځمکه د کر وړ ده. په دې هېواد کې پينځه سيندونه بهېږي، خو سره له دې يې هم د اوبو لگولو نظام دومره پرمختللی نه دی چې په پايله کې يې د کر وړ ټوله ځمکه خړوبه کړای شي. که څه هم يو اېس اېډ او نورو ادارو د افغانستان له کروندگرو سره د فصلونو توليد اضافي، د اوبو لگولو نظام بهترې او د کرکيلې او لايو سټاک د ودې له لارې مرسته روانه ساتلې، خو ددې کومې خاص پايلې نه دي را وتلې.

د صنعتونو د نشتوالي له امله د تربيه شويو خلکو کمی داسې ستونزې دي، د کومو په وجه چې افغان کروندگر د کروندې سمدستي لاسته راوړنې لپاره د کوکنارو په فصل په انحصار کولو مجبور دي، ځکه چې دوی په کم وخت کې د فصل ښه نعم البدل تر لاسه کوي.

په افغانستان کې د کوکنارو کرونده، توليد او له تجارته يې د تر لاسه کېدونکي امدن حجم د ميليونونو ډالرو د ماليت دی، خو له دې نه افغان دولت او نه کروندگرو ته پوره معاوضه په لاس ورځي، ددې پر ضد له دې تجارت څخه د ترلاسه کېدونکي امدن ډېره برخه د جنگسالارانو، ترهگرو او د نشه‌يي توکيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قاچاقبرو جیبونو ته ځي.

پر ۲۰۰۱ ز کال په افغانستان کې د ناټو د عملیاتو له پیل کېدو نه پس د بیا رغونې او بحالۍ په نوم امریکا، اروپایي ایتلاف، جاپان او نورو مرستندویو هېوادونو له بېلابېلو پروژو سره سره د کوکنارو د کروندې د کمښت لپاره اقدامات کوي، ځکه چې د نشه‌يي توکیو قاچاق د ټولې نړۍ ستونزه ده، دا حالات په نظر کې ساتلو سره افغان دولت او ګاونډي هېوادونه یو ځای شوي او ددې مسئلې د حل لټولو هڅې کوي.

په داسې حال کې دې ته اړتیا ده چې افغان دولت د کوکنارو د کروندې او تولید عمل رسمي کړي، باید افغان دولت نړیوالو هېوادونو او په خاصه توګه له دوا جوړوونکیو هېوادونو سره تماس ونیسي او د افیونو قانوني برآمد ته پام وکړي.

په ۲۰۱۷ز کال کې د دوا د صنعت نړیوال حجم ۹۳٤,۸ میلیونه ډالر ریکارډ کړای شوی و او د یوې اندازې له مخې د ۲۰۲۱ز کال په پای کې به ددې صنعت حجم د ۱۱۷۰ میلیونه ډالرو نه هم زیات شي. په دې وخت کې افیون په ګڼ شمېر سکون رسوونکیو دواګانو کې کارول کېږي.

باید افغان دولت او د ملګرو ملتونو د نشه‌يي توکیو او د جرایمو د مخنیوي اداره هغه ټول پرمختللي او پرمختګ کوونکي هېوادونه چېرته چې د درملو صنعتونه دي، په دې قایل کړي چې هغوی د درملو جوړولو لپاره افیون له افغانستانه وپېري، له دې سره به افغان حکومت ښه مالي ګټه تر لاسه کړي او ورسره به د کروندګرو ګټه هم زیاته شي او ورسره به د نشه‌يي توکیو په قاچاق کې ډېر کمښت راشي. په دې لړ کې د افغانستان د کرنې وزارت، اقتصاد وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او تجارت وزارت هم مسوولیت لري، دا یو مشکل کار دی خو چې نیت او اراده وشي، نو بیا هېڅ ناممکن نه دي.

افغانستان په دې وخت کې د بیا رغونې او بحالۍ له پړاو نه تېرېږي، باید افغان دولت په دې ځان پوه کړي چې د نشه‌يي توکیو د قاچاق په اړه د تجارت یوه لویه برخه د قاچاقبرو، عسکري ډلو او نان ستېټ اېکټرز لاسونو ته ځي، که د کوکنارو کروندې، تولید او بهر ته لېږل قانوني او رسمي شي، نو افغان دولت هغو وړو کروندګرو ته نېغ په نېغه ګټه رسولی شي، کوم چې په دې وخت کې د معاش له ستونزو سره مخ دي. په دې لړ کې موږ د کاناډا یو مثال ورکولی شو، چېرته چې د طبي موخو لپاره د نشه‌يي توکیو تر یوه حد پورې د قانون له مخې د کروندې اجازه ورکړل شوې. دا اجازه چاته ورکړل شوې؟ او ددې شرایط څه دي؟ باید په دې لړ کې افغان دولت د هغه ځای د قوانینو او شرایطو جاج هم واخلي.

# سیکولاریزم

اجرالدین اقبال

**... په تېر پسې**

دا بېلګه ښيي چې موږ همدغسې د ماوراْ طبیعت په لمن کې ژوند کوو او ژبه مو پوره سکولار شوې نه ده. دا له یوه فرانسوي سره پرتله کړئ چې د خدای پامانۍ پر وخت وايي: «د لیدو په هیله» او یا یو انګلیسي چې وايي: «مخې ته دې ښه». دا ژبه، د فرنګیانو همېشنۍ ژبه نه وه. که تاسې د دوی مخکېنیو لیکنو او خبرو اترو مراجعه وکړئ، وبه وینئ چې په خدای پامانۍ او لیک لیکلو کې دومره وچ کلک نه ول او هلته دیني سمبولیک ژبې واکمني درلوده.

خو تر ژبې ډېر او مهمتر، انګېزې مو دي. مهمترین ځای چې د لازمان او ماوراْ طبیعت عالم - چې دین هم په دې نړۍ پورې اړوند دی - په طبیعي ژوند کې مو دخالت کوي، په عمل کې مو نیتونو ته بڼه او روح ورکوي. انسان بې له انګېزې او اندیښې بل څه نه دی. مولانا بلخي ویل:

ای برادر تو همان اندیشه ای - ما بقی تو استخوان و ریشه ای (مثنوي)

د اندیشه کلمه یې په عمومي مانا کارولې ده؛ هم نیت په پام کې لري او هم اندیشه. انسان د نیت او اند ټولګه ده او د عمل په ډګر کې د خپلو نیتونو تابع دی. که انګېزې او نیتونه یې دیني وي، دیني انسان کېږي او که غیر دیني وي، سکولار کېږي. جمع هم تل په فرد پسې ځي. که د ټولنې ډېری وګړي دیندار وي، دیني ټولنه به رامنځ ته شي او که غیر دیندار وي، سکولار ټولنه. په نویو ټولنو کې دا پېښه شوې چې غیر دیني نیتونه، د دیني نیتونو ځایناستي شوي دي. د بېلګې په ډول د روغتیا او وطن دوستۍ انګېزې شنلای شو.

د اسلام له پېغمبره(ص) یو روایت لرو چې وايي: «النظافة من الایمان» یعنې پاکوالی د ایمان یوه برخه ده؛ یعنې مؤمن انسان د مؤمن والي په نیت پاکوالی غواړي. همدغسې موږ ټول له هېواد سره مینه لرو. که کوم دښمن زموږ پر خاوره یرغل وکړي جګړه ورسره وکوو او د فاع ترې کوو. په دیني روایاتو کې لرو «حب الوطن من الایمان» یعنې له هېواد سره مینه د ایمان یوه برخه ده. مؤمن انسان، د خپلو دیني ښوونو له مخې، وطن دوست دی او له خپلې خاورې به دفاع کوي. همدلته یو بنسټیز ټکی نغښتی دی. څوک چې له خپل هېواده دفاع کوي په کوم نیت دغسې کوي؟ څوک چې د پاکوالي په لټه کې دی، په کوم نیت دا کار کوي؟

په نوې نړۍ کې ویل کېږي، د پاکوالي لپاره، دیني نیت لازم نه دی؛ بلکې د عقلمنو انسانانو په توګه پوهېږو چې پاکوالی یو ښه چار دی. دا چې خدای تعالی هم ترې راضي دی، خومره ښه؛ خو ان که خدای هم نه ویل، موږ په خپلو عقلونو پوهېدو چې پاکوالی یو ښه چار دی او یوازې په عقلي انګېزو پر ډېر کولو مو د پاکوالي رامنځ ته کولو ته هڅه کوله. او یا کله چې غلیم زموږ پر هېواد یرغل کوي، پر کور مو تېری کوي؛ نو شونې ده په دیني انګېزو له ځانه دفاع وکړو او شونې ده دیني انګېزه هم ونه لرو او له ځانه دفاع وکړو.

په غیر دیني ټولنو کې، خلک د خپل مال، ناموس او خاورې لپاره مبارزه کوي سره له دې چې دیني انګېزه نه لري. تردې اوچت، له ظلم سره مبارزه ده. څوک چې په ټولنه کې ظلم زغملای نشي، څوک چې وینې «نابینا و چاه است» او چوپ کېناستای نشي، په دوو انګېزو غبرګون ورته کولای شي: یو په دیني انګېزه ؛ ځکه دا کړنه د خدای خوښه ده او بل په غیر دیني انګېزې؛ یعنې په یو عقلاني څېړنه دې پایلې ته ورسي چې ټولنه له ظلم سره نه پاییږي او د ظلم منل د انسان له فطرت سره په ټکر کې دي. سکولار ټولنې دغسې یو وضعیت لري.

په دیني ټولنو کې د سکولار ټولنو عموم بنسټونه هم پیدا کېږی؛ یعنې که هلته د کرنې وزارت لري، دیني حکومت هم د کرنې وزرات لري. که هلته دفاع وزارت لري، دیني حکومت یې هم لري. دا ټول ظواهر یو دي؛ نو ترمنځ یې توپیر څه دی؟ کوم چار یوه دیني ټولنه له غیر دیني ټولنې یا یو دیني حکومت له یو غیر دیني حکومته بېلوي؟ دا توپیري عنصر انګېزې او نیتونه دي. د دواړو کړنو بهرنۍ بڼه یوه ده. بنا او ساختمان یې یو رنګ دی. په دواړو ټولنو کې بنسټونه یوبل ته ورته دي. دلته یوازېنۍ څیز چې د سکولار او غیر سکولار ډلو ترمنځ توپیر رادبره کوي، «انګېزې» او «نیتونه» دي؛ یو د الهي رضایت په نیت عمل کوي او دا بل نه له خدای سره د موافقت یا مخالفت - چې له آره به ذهن کې دغسې انګېزه نه لري - له وجهې بلکې په خپلې عقلاني انګېزې عمل کوي لکه وايي پلانۍ کار کوم ځکه عقلاني محاسبې راښيي چې پلاني ځای ته به ورسم او همدغسې.

د سکولاریزم ددې مفهوم په پام کې نیوو سره، ډېرې تبعي او فرعي ټکي به یې راښکاره شي. لکه چې ومو ویل. نړۍ، د انګېزو او اندیشو نړۍ ده. د انګېزو په نړۍ کې کله مو انګېزه دا وي چې له یوه ماورایي موجود سره معامله وکړئ او طبعا چارې مو دده په وینا او دده د خوښۍ لپاره کوئ. کله هم دغسې محاسبه او سنجونه نه لرئ؛ خو په عقل چلېږئ او د کار پایله هم یو رنګ ده. کله چې زموږ په ټولنه کې ویل کېږی: «موږ خپل مکلفیت ترسره کوو» د «مکلفیت ترسره کولو» دقیقه مانا همدا ده چې: « موږ په خپل ګومان د دیني او الهي انګېزو له مخې عمل کوو، حال دا چې نور د دغسې نیتونو له مخې عمل نه کوي. »

له دې سریزې دوه مهم ټکي راوځي: لومړی ټکی دا، په سکولار او غیر سکولار لید کې د کړنې بهرنۍ بڼه څه دخالت نه لري. څه چې دخالت لري د عامل وګړي دننۍ انګېزه ده. زه یو کار کوم چې شونې ده ته یې ورته ترسره کړې؛ ته هم موټر چلوې او زه یې هم. ته هم ښوونځی پرانځې او زه یې هم. ته هم اولادونه روزې او زه یې هم. شونې ده دا ټول پوره یو رنګ بڼه ولري. کوم څیز دا دواړه کړنې یو له بله بېلوي؟ دا چې زه ځانګړی نیت لرم او تاسې بل لرئ. نو ظواهرو ته په کتو ویلای نشو چې کوم وګړی یا ټولنه سکولار او کوم وګړی یا ټولنه سکولار نه ده. بې له بخري توپیره، د کړنو ظاهر یو رنګ کېدای شي...

**پاتې په بله ګڼه کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سر يې هورې په دمغان لم يې اټک دی

**ابراهيم ايمان**

په مور وطن ډېر کړاوونه او جګې ټيټې تېرې شوې دي، خو نه يې چنګېز ته سر خم کړی، نه ګوډ تيمور، نه انګرېز و شوروي ته. په مور وطن هرې ډلې ټپلې زړه يخ کړی دی، خو له داخلي خاينانو هم په امن نه دی پاتې شوی. څوک يې په ټټر کې سرو او سپينو ته غله ول او څوک يې بيا د نورو په اشارو نوم و نښان ته شنه مره.
هرې ډلې چې په مور وطن کې له دمغانه تر اټکه پورې ظلم او زياتی کړی دی، په شرمو شرمېدلي دي.
کله چې امريکا او متحدينو يې پر افغانستان بريد وکړ، امريکا يوې ډلګۍ ته داسې زمينه برابره کړه چې د وطن اکثريت يې يوې څنډې ته کړ. ددې ډلګۍ په رأس کې بيا پخوانی ولسمشر حامد کرزی و. ده او دوی پخپله دوره کې داسې کارونه وکړل چې د پښتون قوم بنياد يې وباسلو، يوازې يې د بېلګې په ډول د پښتنو په سيمو کې خيالي ښوونځي يادوم او بس!
د حکومت په چوکاټ کې خو له الفه تر يا، ټوله شمالي ټلواله مسلطه وه. دوی د پښتنو په سيمو کې جنګ ته زمينه برابره کړې وه. په روان جنګ کې مو ټول اسلامي او پښتني ارزښتونه زخم زخم، ټپي ټپي شول. ټيکری، څادر، لنګوټی، برقه او د پتمنو پښتنو مېرمنو جامې..!
هو! دا ارزښتونه مو څه په خپل لاس ټپي کړل او څه د نورو په لاسونو، خو اوس د هېواد په شمال کې ځينې را پورته پورته شوي دي لوی ارزښت د افغانستان نوم او افغانيت نه مني. مور يې په تدريجي ډول دې ځای ته را ورسولو اول يې پورته ياد شوي ارزښتونه او ژبه په اداره کې فلج کړه، بيا خبره دې ځای ته را ورسېده چې اوس د افغان په سپېڅلي نامه پوزخند وهي، ننګين او منفور نوم يې بولي!
څوک چې خراسان غواړي، دوی د تاريخ هغه بابونه نه دي کتلي چې چا په دې پاکه خاوره کې د بغاوت ناره کړې ده، انجام يې څه دی او افغان ولس څه ورسره کړي دي.
دوی پردي تاليخټي تل د پرديو پروژې دلته په لوی افغان وطن کې پر مخ وړي او تل يې له دې خاورې نه نورو ته ګټې رسولې دي.
اوس بيا غواړي چې پخواني باداران خوشحاله کړي او په افغان وطن کې د بې اتفاقۍ او تعصب نغارې وډنګوي، خو زه حيران دې ته يم چې ولسمشری ماڼۍ او نور ادرسونه خپل ورته ګوري او هېڅ غور نه پرې ګروي! دوی کېدای شي په دې نه پوهېږي چې دا د ننګ مسئله ده، د عيرت خبره ده او د افغانستان د ابرو خبره ده...
بل د لوی کندهار، لويې پکتيا او مشرقي ولسونه هم چوپ دي، که حکومت او دولت په دې خبره سر نه خوږوي، نو دا ولسونه چې تل يې د افغانستان په سترو مسئلو کې دخالت کړی دی، نن بايد په يوه غږ را پورته شي، ستميانو او خرو او اسانو ته داسې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي چې راتلونکي نسل ته يې يو سبق پاتې شي.
که ددې خبرو مخه په نطفه کې ونه نيسو او دا خبرې وړې وګڼو، نو لرې نه ده چې په وطن کې به دې خبرې ته ايران او پاکستان پوکی ورکړي، بيا به يې مخه نيول ډېر ګران شي. خدای مکړه چې د ګل ګل وطن دا خلک را نه ټوټه او پرچه پرچه کړي.

سر يې هورې په دمغان لم يې اټک دی
په دې منځ کې يې مېشته واړه عبث دي
«خان علیین مکان»

# سوله مو تجربه کړې؟

**احسان الله مومند**

سوله هغه ښېرازه ده، چې له خوشحالی، نېکبختی، پرمختګ، امنيت، اقتصاد او... له لرلو مو برخمن کوي.
مور تل د سولې په اړه اورېدلي او ان رسنۍ هم د سولې لپاره -لکه څومره چې ورته اړتيا ده- کار نه کوي.
ډېرې رسنۍ د سولې بهير ځپي، ډېری شنونکي او چارواکي هم ورته کړنې کاندي.
آيا داسې يوه رسنۍ به څوک را وښيي چې د سولې په اړه يې خپرنيز راپور خپور کړې وي؟! او يا يې کوم کارپوه پوښتلی او هڅولی وي، چې ولې سوله نه راځي؟!
ځواب هرومرو منفي دی؛ ځکه مثبته خپرنه يا د سولې د ګټو او مثبتو اړخونو شننه، سپړنه او خپرنه په تېره نيمه پېړۍ کې نه چا ليدلې او نه لوستلې ده.
زمور د هېواد ځينې کاري شنونکي يا د سياسي چارو کارپوهان تينګار کوي، چې خنګه ملي روح، له ملي ځانه بېل او وځپي!
مثلاً 2014ز کال يې هېوادوالو ته داسې ور پېژندلی و:
په 2014 ز کال کې به يو انسان د بل انسان خوړونکی وي. خو تر دې دې دمه هېچا، هېڅوک ونه خوړ، هېچا، هېڅوک لواړ تېر نکړ.
رابه شو د سولې او انسان ارزښت ته. الله پاک په سورة المائدة، ۳۲ اية کې داسې فرمايلي دي:
مَن قَتَلَ نَفْسًا بغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ في الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا
ژباړه: (بېشکه شان دا دی هر څوک چې ووژني يو نفس بې له (عوض او بدل) له بل نفس څخه (يا بې) له فساده په ځمکه کې (چې په ملک کې يې فساد کړی وي) نو ګواکې وژلي يې دي ټول خلک او هر چا چې ژوندی کړ دغه (يو نفس چې سبب شي د ژوندون يې) نو ګواکې ژوندي کړي يې دي ټول خلک).
دا چې د يوه بې ګناه انسان وژل د ټول عالم وژل دي؛ نو بيا ولې زمور په ګران هېواد افغانستان کې هره ورځ لسګونه او سلګونه کسانو ته مرګ ژوبله اوړي؟!
آيا افغانان انسانان نه دي؟!
آيا په افغانستان کې د يو بل وژنه، تښتونه، شر و فساد ورځ تر بلې کمزوری شوی او که د ځواکمنتيا بېلابېل پړاوونه وهي؟!
آيا په دې اړه ټولو خپل حق ادا کړی؟!
آيا د سولې په نوم چې کومې پيسې د مظلوم ملت له جېبه اېستل کېږي، دا پر ځای مصرفېږي؟ ايا هغو رسنيو او شنونکيو چې ځانونه د هېواد د ملي ګټو او د هېواد د بچيو ساتونکي، ژغورونکي او هڅوونکي بولي، په رښتيا د سولې مثبت اړخونه څېړلي؟
زما په اند ددې ټولو پوښتنو ځواب منفي دی؛ ځکه دوی يوه ورځ په دې اړه چې د يوه انسان وژل د ټول جهان وژل دي؛ يوه داسې پرتمينه غونډه نه ده جوړه کړې، چې پکې ملي مخور، سيمه‌ييز سپين روبي، قومي مشران، د لېرې پرتو سيمو درانه اوسېدونکي او ځوانان برخه واخلي. که يې جوړه کړې هم وي؛ وروسته يې پروژه‌يي بڼه په ډاګه شوې او د ورغليو خلکو له ملاتړه بې برخې شوې ده، لګښت يې هم د يوې پروژه‌يي موخې قرباني شوی دی.
هوکې! د هغو سيمو له خلکو دې د روان وحشت او ناخوالو د حل او عواملو په اړه وپوښتل شي، چې هلته هره ورځ وژنه، کرکه، جنګ او وحشت روان دی. بيا به نو د ستونزې په اړه ناسته، څېړنه او بحث ولې بې پايلې کېږي.
که ښکېل چارواکي په رښتيا سوله غواړي، بايد له قومي مشرانو او ملکانو سره مشوره او نېک اړيکي ټينګ کړي. ځوانانو ته دې د عامه پوهاوي او ملت دوستی پروګرامونه او سيمينارونه جوړ او په ټوله کې دې دا څلور اصله -چې د يوه ملت او يا ملک د ملا تېر بلل کېږي- غښتلي کړي، چې هغه اخلاق، اقتصاد، امنيت او پوهه دي.
شاعر وايي:

لوی مه شه هغه ځوی دې په خوا پورې
چې يې نه نيولی درس او نه مکتب دی

په اوسني روان ناورين کې تر ټولو ګرم او جذباتي هغه ځوانان دي، چې د علم په زده‌کړې بوخت دي !
دا ولې؟!
آيا ژوند په څېړنه نه ارزي؟ او که ارزي بيا چارواکي، د سولې کاروان مسوولين او کارپوهان او رسنۍ په دې اړه چوپتيا ولې غوره ګڼي او څېړنه نه کوي؟!
څرګنده ده، چې په دې هېواد کې ګران او زړه ته نږدې خپل او پردی جېب دی! نه ملت او نه يې د ملي پيدايښت ارزښتونه!
خو په نورو هېوادونو کې دا جوته ده، چې ډېری خلک او ملت د جېب په پرتله ښاغلي او درانه دي.
هو! چارواکي (حکومت او دولت) بايد ملت او هېواد ته وفاداره وي؛ ځکه د حللارې لټون او په هېواد کې سمون د دوی کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مردم، خشمگین اند!

مصطفی عمرزی

**در تنگنای زنده گی، فشرده می شویم. نان، آب و خانه ی ما را گرفتند، کم نبود، حالا از نفس نیز افتیده ایم. حالت بی زاری توام با خشونت مرا می خورد. مردم، چه گونه منقلاب می شوند و در خروش خشم آنان، حاکمیت ها و رهبران، چه گونه زیر پا شده اند؟ به این درک، نزیک می شویم. اعتماد ما به بازیگران سیاسی، ارمغان هرج و برج بیشتر است. مثل این می ماند که کار ما، تایید هر کس و ناکسی ست که با ساخت دوسیه و شجره نامه، مردم را درگیر مرور گذشته ای می کنند که در هیچ کجایش، پس منظر آنان، تاریخ تجربیات کاری خوب ندارد. می آیند و می روند و از ما طلب رای می کنند. وسیله ی وصل ما با حکومت داران، چند نوبت اعتماد آراست...**

خبر های کذایی زیادی را شنیده بودیم که شهر های ما را از وجود موانعی پاک سازی می کنند که در همه جا، شبیه قلاع معروف کابل شده اند. با این تفاوت که حضور جامعه ی جهانی، تکنالوژی عمران بین المللی را به ارمغان آورده است. به جای گل و پخسه ی وطنی، از سیخ و سمنت، مانع می سازند.

طی یک سال اخیر، مثل این که کار های قبلی را فراموش کرده باشند، به اندازه ای به حجم موانع سمنتی شهر کابل افزوده اند که به گونه ی فجیع، جلو تردد مردم را می گیرند.

تهدیدات امنیتی بزرگ و کوچک، مجموعه یا حلقه ای را که در تبانی با ارگان های امنیتی کار می کنند، به تجارت ستر ادارات، جاده ها و افراد وامی دارند تا ضعف های فاحش سکتور امنیتی بیشتر به نمایش گذاشته شوند.

اگر این همه ادعای توان مندی درست است، چرا فضای تردد و تنفس مردم را تنگ می سازند؟ در کجا پنهان می شوند؟ عقب سمنت ها! پس سرنوشت و تحفظ مردم چه می شود؟ یا این که مردم، فقط گوسفند استند؟

فاصله ی ما از دولت، به چند فرسخی رسیده است. نمی دانم چه کسانی تصمیم می گیرند؟ در شهر کابل در ازدحام مناطق مرکزی که انباشته از مراکز تجاری، ساحات قدیمی مسکونی و ادارات دولتی اند، هر کجا که فضای بازی به چشم بخورد، همه روزه با هزاران تن موانع سمنتی، حصار کشی می کنند. در چهارراه پشتونستان، مردم در تنگنای مکان، روز تا روز دور حلقه ی چهار راه فشرده تر می شوند.

هراس از عدم کفایه، شماری را به تلاش انداخته است که با سمنت کاری شهر، به ذعم خود شان به امنیت بیافزایند. در این کار، تفکیک مناطق و کجا هایی که مورد حمله قرار بگیرند، مدنظر نیست. هر جا فضای باز بیایند، سمنت می گذارند.

چند ماه قبل از چهار راه پشتونستان تا چهار راه سرای شمالی را با ۲۰ یا ۴۰ افغانی طی می کردم، اما حالا موتر های دربستی با کرایه ی ۲۰۰، ۲۵۰ یا ۳۰۰ افغانی، حاضر نمی شوند به این مسیر بروند. با پیمودن فاصله ای تا چهار راه ملک اضغر، صدارت یا چهار راه انصاری، آن هم فقط به موتر «دربستی» می رسیم.

احاطه ی وزارت مخابرات با موانع جدیدی که به نام گلدان گذاشته اند و با جلو آوردن دیوار های سمنتی که جلوتر از دیوار های احاطه ی وزارت قرار دارند، پیاده رو را به حد عبور یک تن در آورده اند. برای آن که همه چیز را ساده وانمود کرده باشند، از جوانان هنرمند افغان که نقاش استند، دعوت می کنند حصار های سمنتی را نقاشی کنند. شباهت این منظره، بی شباهت به پناهگاه های اتومی نیست.

در اوایل حمله ی امریکا به افغانستان، مردم، نگرانی داشتند که حضور بن لادن، به قیمت جان شان تمام نشود؛ زیرا شایع شده بود که به زودی با بمب اتومی امریکا، رو به رو می شوند.

بی زاری توام با خشونت، کاسه ی صبر مردم را لبریز کرده است. مرکز شهر که محل تردد جمع کثیری از اهالی پایخت است، بر اثر تنگنای جا، ساعت ها همه را درد سر می دهد. هنوز از برف و بوران خبری نیست، زنان و دختران مردم از عصر الی ۸ شب در ایستگاه های مرکزی شهر منتظر می مانند تا موتر بیابند.

وقتی این سطور را می نویسم، از شدت ناراحتی بی میل نیستم چند فُحش خواهر و مادردار به مسوولان حواله کنم. آخر کدام حیوان تصمیم می گیرد؟ با این همه مدعی عقل و منطق، یکی نیست بیاید و مشاهده کند که سمنت کاری شهر، نمی تواند جلو درز هایی را بگیرد که با ضعف مدیریت، نصف مملکت، جغرافیای حاکمیت مخالفان شده است.

همه جا سمنت چیده اند. احاطه ی وزارت دفاع که از داخل نیز حیاط کلان دارد، به اندازه ای بزرگ شده است که در کنار اشغال پیاده رو، نصف جاده ی برج ساعت تا زیارت ابوالفضل را می گیرد.

در جا هایی که ادارات امنیتی قرار دارند، چهره های نگهبانانِ و پاسبان به مشکل رویت می شود. عموماً روی یک دیوار سمنتی بزرگ که خود به یک احاطه ی مربع سمنتی دیگر منتهی می شود، یکی با کلاه و تفنگ، از عقب یک پرده ی جالی، مردم را نظاره می کند. در واقع این ما استیم که آزاد می گردیم. مسوولان امنیتی ما بیشتر از هرکس احساس ناامنی می کنند.

اگر به قسم معمول تحلیل سیاسی- اجتماعی این بدبختی ها بپردازم، عقده های ما به قصر سفید می رسند، اما به این بسنده می کنم که تصیمم گیرنده گان و مجریان، از مردم دفاع می کنند یا از خود شان؟



مردم ما در میان موانع سمنتی، مانند یتیمانی استند که فقط وظیفه دارند رای بدهند و حمایت کنند. این همه هیاهو، نظام، حکومت و مسوولان، برای چیستند؟ خوب، معلوم است که باید به نیاز های مردم پاسخ بگویند؛ مردمی که در حصار های سمنتی خورد و افسرده می شوند.

نمی دانم شاید سناریوی تازه در کار است! آهسته و بدون سر و صدا، اطراف خویش را حصار می بندند. خدا کند خیانت دیگری در کار نباشد! از چه می ترسند و چه را پنهان می کنند؟

هر روز در صف هموطنان مستضعف، مظلوم و درمانده ی ما، به عنوان کسی که وجداناً درد های آنان را شرح می دهد، منقلب می شوم. حالت تکرار، یک نواخت و زجر دهنده که فقط زیاد می شود. واقعاً اسفبار است که کسی به این نمایشگاه یاس، اندوه و خشم توجه نمی کند. فتنه هایی که به همه چیز آتش می زنند، از همین شرر اجتماعی برخاسته اند.

عذاب در عذاب، مردم را خشمگین می کند. تا دیر نشده، بجنبید! هر کی در این جا خیال اقتدار کند، ناگزیر است هول ماحول اش را بپذیرد. در عقب سمنت ها و سنگر ها، فاصله از مردم، به فرسخ ها رسیده است. بهتر است از «بحران عدم اعتماد» بگوییم!

**شرح تصاویر:**
**نمونه هایی از هزاران مانع سمنتی شهر کابل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بلاګانو میاشت

جبران جبرایلي

وایي، خبرې له خبرو پیدا کېږي، زه او استاد محمد آصف صمیم د پېښور په یوه جوړه شوې غونډه کې مشران مېلمانه وو، ما صمیم صیب ته وویل، تا له ځان سره څه راوړي؟ هغه راته وویل، ما له ځان سره هېڅ هم نه دي راوړي، ددې ویناوالو په خبرو کې دومره خبرې پیدا کېږي چې ماته د څه راوړلو ضرورت نه پېښېږي، دا هماغوی په خبرو کې خبرې کوم.

ماته هم په خبرو خبرو کې د سوات درې یو نامتو لیکوال -چې زه ورته د غره هومره درانه ګورم او د سوات د اخرې پاچا بیرغ هم له ده سره خوندي دی- محمد پروېش شاهین یادوم. یاد دې په خیر وي، هغه به ویل، اسد دانش ته ادیبان اسد لالا او دانش لالا وایي، خو زه چې کله په دې تنګه ګلۍ را پېښ شوی یم نو ټول ادیبان ترې داسې را تاو وي، لکه مهربانه مور، نو زه ورته د ادیبانو مور وایم، خو ښاغلی شهرت ننګیال صیب د اسد دانش په تړاو جلا نظر لري، هغه وایي، په دوستۍ کې جوړه نه لري، خو په دښمنۍ کې یې دوه خطرناکې الماري ساتلې، په یوه کې یې سموم خفیفه او په بله کې یې سموم شدیده ایښي. که د سموم شدیدهوو له الماری نه یې یو نرۍ شان کپسول هم را ووېست نو د ډېرو سابه په مالګه کولی شي. ما هم د ننګیال صیب خبره جدي اخیستې، د هماغو دوو الماریو له وېرې ورسره ډېر محتاط چلېږم.

دا دوه لسیزې کېږي ځان ورسره په اوداسه کې ساتم. شپاړس کاله پخوا یې له یوې جګې ځانګې ناست یو خوار داسې لاندې را ګوزار کړ او په داسې یوه سوړه یې ننوېست چې لا تر اوسه یې له را وېستلو څخه ډېر یاران عاجز پاتې دي. زه لطیف جان بابې یادوم، له ډېرو کلونو او کړاونو وروسته ما هم یوه الماری سازه کړې، که یو قلم ترې را وباسم، نو د ډېرو یارانو خولې به په امبورونو هم خلاصې نشي او له وارخطایۍ به ترې بدرنګي د میدان رنګ شي او د ځینو د مخ له وړیو نه به درته د سپي لکۍ ښه ښکاره شي.

زه ددې لوبې ډېر پخوانی لوبغاړی یم او د ډېرو ښاغلیو رنګ په رنګ کیسې راسره شته. د همدې الماری له برکته چې ما پخوا په څه عقیده لرله اوس یې پرې نه لرم، کاش! ددی مکارو زاهدانو قبرونه مې پخوا نړولی وای، کاش! د دوی جنډې مې سېځلې وای او زیارتونه مې ورته په کانېو ویشتلي وای که زه د خپل یو ناچاپ کتاب یو څو کرښې را نقل کړم، نو له ما نیولې د جومات تر ملا امامه پورې به رانه ځان څوک سپین نکړي.

که زما په لیکنه د چا تندی ګونځې شوی وي، باک یې نه ګڼم، د کابل یخنۍ او واورو رانه خبره اوړده کړه، د خپل ملا په دې شعر یې رالنډوم:

بډلوي د کتاب توري ړندوي د ایمان سترګې
که یهود دي که سعود دي که ډالر دي که ریال

رښتیا ما خو د بلاګانو د میاشت خبره را نیولې وه، ما ماشومتوب کې د بلاګانو ډېرې کیسې اورېدلې دي، کله کله چې به مې په کور کې شرارت زیات شو، نو خدای بښلې مور به راته ویل، چوپ شه که نه بلا راځي! د بلا د لفظ اورېدو سره به مې ټول شرارتونه هېر شول، چې لږ را لوی شوم نو مشرانو به راته ویل، پس له ماښامه له کوره ونه وځې، دا د بلاګانو میاشت ده او په دې کې ډېرې خطرناکې بلاګانې را وځي او دا به هم پکې ویل کېدل چې تېر کال هغه فلانی سړی بلا په څپېړه وهلی وه، درې ورځې یې تودې تبې وکړې او بیا مړ شو. له څپېړې او تبې لفظ سره سم به مې د خدای بښلې پلار غبرګ ته ځان رسولی و.

زه چې اوس هم کله کله د شپې له کوره وځم نو د ماشومتوب هغه بلاګانې مې مخې مخې ته کېږي، زه په دې نظر وم چې دا بلاګانې به قوي قوي جسامتونه لري، د سر وېښتان به یې په زنګنو لګېږي، غاښونه به یې د فیلانو په څېر را وتلي وي، نوکان به یې د لاس له پنجو نه هم اوږده وي، سترګې به یې سرې او ډارونکې وي، خوراک به یې د ځناورو په څېر وي او د انسان مرګ به ورته د مچ وزر هم نه ښکاري. زړه کې به مې ویل، خامخا لوی لوی ښکرونه به هم لري، چالاکي به یې له ګیدړې زیاته او د انسانانو د وینې له څښلو به خوندونه اخلي.

د بلا لپاره زما په ذهن کې همدا تصویر و، کله چې را لوی شوم او بلاګانې مې د سر په سترګو ولیدلې، نو ځان سره مې په کړس کړس وخندل، چې د بلا لپاره زما په ذهن کې جوړ شوی تصویر ډېر په لوی توپیر مخې ته راغی.

اُف خدایه! زه څومره ساده وم، ډېر وروسته پوه شوم چې دا بلاګانې خو د انسانانو په بڼو کې دي، دوی خو په لوړو لوړو بلند منزلو کې اوسېږي، په تورو شیشو او قیمتي موټرو کې ګرځي، په لوړو لوړو څوکیو ناست او د اعلی مقام خاوندان دي. له ډالرو سره لوبې کوي، د انسانانو د اسیرولو او وژلو کورسونه یې ویلي. دې بلاګانو خو ځان ته په دې دنیا جنت جوړ کړی، حورې او غلمان هم لري، شراب ورته له فلتر شویو اوبو نه هم اسانه پیدا کېږي. دا بلاګانې خو د مفلسو حسنونو تالاګر او سوداګر دي، دا بلاګانې خو د انسانانو په وینو پړسېدلې، زر او زور هم لري. دوی خو د ولس په وینو اودسونه کوي. دا بلاګانې خو د خلکو په عفت، عصمت او ژوند اخیستلو کې بلا ډېرې ماهرې دي. دوی خو ښکرونه او د فیلانو په څېر غاښونه نه لري، دا بلاګانې خو د انسانانو په اختطاف او د مخدره موادو په قاچاق کې هم لاس لري. دې بلاګانو خو په هدیرو هم رحم نه دی کړی، له دوی هدیرې هم امان غواړي.

دا بلاګانې خو پردي جایدادونه او دولتي املاک هم غصبوي. ددې بلاګانو وجود خو له طالبانو او ISIS نه هم خطرناک دی. دا بلاګانې خو په غصب کې را لویې شوې او په غصب کې مرې او پس له مرګه هم په جګو غونډیو او تپو د غصب ځادرونه غوړوي. دا بلاګانې خو د زړې زمانې په څېر دنیا د غوایي پر ښکر کې نه کسي، دوی خو دنیا پخپلو ښکرونو ولاړهویني.

اُف خدایه! د دوی په تصویر جوړولو کې ما څومره لویه غلطي کړې، کاش! دوی زما د خیالي تصویر په څېر وای، دوی خو دښتې غرونه او بسته ښهرکونه په بډه وهي.

خبر شوم چې له ډېرو کلونو وروسته خلک ددې بلاګانو په نومونو اخیستلو هم بریالي شوي دي. بله واورئ! لکه څنګه چې په رمضان مبارکه میاشت کې غټ غټ شیطانان په زنځیرونو تړل کېږي، له چا مې واورېدل چې دا بلاګانې به هم د غټو غټو شیطانانو په څېر نیول کېږي، تړل کېږی او قانون ته سپارل کېږي، حسابونه او کتابونه به ورسره کېږي.

کاش! د بلاګانو دا د نیولو میاشت یو څو کاله پخوا راغلې وای، دومره انسانان خو به نه وژل کېدل، دومره ځمکې او جایدادونه خو به نه غصبېدل، دومره د کونډو او یتیمانو لښکرې خو به نه جوړېدې، دې بلاګانو خو موږ ته صرف هدیرې، بې تنه سرونه او د بدن غوښ غوښ اندامونه په تحفو کې راکړي دي. اوس هم ناوخته نه دی(دیر آید درست آید) ډېره ښه خبره ده، خدای دې دا مظلوم ولس ددې دوه سیکړو بلاګانو له ظلم و شره په امان کړي. اخرت کې خو به اندامونو شاهدي ورکوي، په دې عجیب الخلقت مخلوق باندې خو ۳۵ میلیونه انسانان د دوی په ظلمونو ګواهي لي.

لوستونکیو!

یاد یې لرئ! الله تعالی ډېر لوی انتقام اخیستونکی دی، زه خپلې خبرې د خپل ملا صیب په دې بیت رانغاړم:

چې د زلفو په زنډی یې نړول د تقوی غرونه
نن یې شونډې هم ترخې شوې نن یې پاک د
تورې زنګ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دروغجنو ژمنو، هېواد بحراني کړ

سلیم ودان

د دیموکراسۍ تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده چې د وګړیو په خوښه او غوراوي د حکومت داسې جوړښت پکې را منځته کېږي چې په ټولو لویو او مهمو ملي پرېکړو، بودیجې او نورو لګښتونو په اړه ولس ته هر وخت حساب ورکوونکی وي، د ولس او حکومت تر منځ د واټن تارونه له منځه تللي وي او په حکومتي کچه ټولې هڅې او کاري پلانونه د هېواد او ولس د هوساینې او پرمختګ لپاره وي.

په ټولو ملي او برخلیک ټاکونکیو مسایلو کې د ولس نظریاتو ته د ارزښت او درنښت په سترګه کتل کېږي. دیموکراسي ولس ته دا زمینه برابروي چې د خپلو رایو په وسیله داسې حکومت او نظام جوړ کړي چې هر وخت د حکومت، حکومتي ادارو او ولس تر منځ معلومات او شفافیت موجود وي. همدا رنګه د ولس رایې داسې فرصتونه له منځه وړي چې له هغه دې مافیا،غله، د هېواد، خلکو او حکومت ضد عناصر پیدا شي.

دیموکراسي ولس ته دا حق ورکوي چې د خپلو رایو په وسیله داسې کسان د حکومت په رأس کې راولي چې د هېوادوالو په منځ کې هر اړخیز عدالت، د فساد مخنیوی او د قانون حاکمیت تامین کړي.

په دیموکراتیکو حکومتونو کې ولس ته د پوهې، ښه ژوند او د هېواد د پرمختګ لارې پرانستې وي. د هېواد هر وګړي ته دا حق ورکول کېږي چې په ملي مسایلو کې نظر شریک کړي. بله مهمه خبره داده چې د نظام په جوړښت او اصلاحاتو کې مستقیماً برخه اخیستی شي، خو له بده مرغه په افغانستان کې د دیموکراسۍ او ټاکنو دواړو بڼې بدلې دي.

په تېرو اولسو- اتلسو کلونو کې په هېواد کې څو ځله د جمهوري ریاست، پارلماني او ولایتي شوارګانو ټاکنې تر سره شوې، خو د ټاکنو هر ځل تر سره کېدن له ډېرو لوړو ژورو سره مخ و. ولس هر ځل د خپل سر په بیه د ټاکنو په ملي پروسه کې برخه اخیستې ده، د هېواد په بېلابېلو سیمو کې زموږ له هېوادوالو څخه د هېواد دښمنانو هغه ګوتې پرې کړې دي چې د رای اچونې په ورځ په ټاکنیزو مراکزو کې په رنګ ککړې شوې وې. په ډېرو ټاکنیزو مراکزو باندې د بریدونو پر مهال همدا رای اچوونکي شهیدان او ټپیان شوي دي. په ټولیزه توګه د افغانستان د ټاکنیز سیستم په عاملو او رامنځته کولو کې تر ټولو ډېره سرښندنه ولس ورکړې ده.

دا کار یې ددې لپاره کړی دی، چې دلته د نورو هېوادو په څېر خلک د مشروع، پیاوړي، ژمن، عادل او قانوني حکومت تر چتر لاندې ژوند وکړي، خو د ولس له بې شمېره قربانیو سره سره بیا هم نه نړیوالې ټولنې او نه هم افغان حکومت د ټاکنو د روښتیا لپاره جدي ګامونه واخیستل او نه هم تر اوسه په ټاکنیزو کمیسیونونو کې اصلاحات او بدلون ولیدل شو.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو د قانون دویمه ماده په هېواد کې د هر ډول ټاکنو تنظیم، اداره، څارنه او له ټاکنیزو سرغړونو او درغلیو څخه را پیدا شویو هر ډول شکایاتو ته رسېدنه یې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د شکایاتو د کمیسیون له موخو څخه یاد کړې دي.

سره له دې هم هر ځل د ټاکنو بهیر له دومره درغلیو سره مخ وي چې په نتیجه کې یې د ولس د ټاکنو په ملي پروسه کې ګډون او رایه اچونه بې ارزښته شي او ټاکنې د خپلمنځي جوړ جاړیو په ترڅ کې پای ته ورسېږي. په داسې ټاکنیز مدیریت کې نه د ولس استازي بریالي کېږي او نه هم په دې هېواد کې وړ جمهور رییس ټاکل کېدای شي. تر څو چې له هر څه وړاندې د ټاکنو کمیسیون له فساد څخه پاک او خپلواک نشي، په هېواد کې به همداسې بې عدالتي، غیر قانوني حکومت، حکومتي چارواکي او له فساده ډکه اداره موجوده وي.

په ۲۰۱۴ز کال کې چې له افغانستان څخه د امریکا د وتلو اوازې ګرمې شوې وې، نو هېواد او هېوادوال له یوه نااخرګند سیاسي او اقتصادي حالت سره مخامخ شول، خو سره له ډېرو امنیتي ګواښونو خلکو په لوړه کچه د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې برخه اخیستنه ثابته کړه.

له بده مرغه له ټولو امنیتي ګواښونو سره سره د خلکو راوتلو قربانیو او رای اچولو ته د ټاکنو خپلواک کمیسیون افغان حکومت او د نړیوالو څارونکو له خوا په ډېره سپکه وکتل شول، د ټاکنو بې پایلې کېدل او په ټاکنو شوي لګښتونه ټول اوبو یووړل او په افغانستان کې د روښتیا او په ډیموکراتیکو اصولو ولاړ حکومت او د نظام خوبونه له خاورو سره خاورې شول. په ټاکنو کمیسیون کې ضیاءالحق امرخېل د ټاکنو کمیسیون د دارالانشاء رییس هغه څېره وه چې د ډېرو افغانانو په باور د ټاکنو د ملي پروسې په اخلال او بې پایلې کېدلو کې یې رغندنه ونډه درلوده او د اوسني حکومت د ټولو بې کفایتیو، فسادونو، نا امنیو، بېکاریو او فقر اصلي لامل امرخېل یادوي.

ښاغلی غني د همدې کال د بې مدیریته او له درغلیو څخه په ډکو ټاکنو کې له بې برخلیک وضعیت سره مخ شو. تر ډېرو کړکېچونو وروسته د امریکا بهرنیو چارو وزیر «جان کیري» په منځګړیتوب غني جمهور رییس او عبدالله په غیر قانوني ډول اجرائیه رییس وټاکل شو. ښاغلی غني واک ته تر رسېدو څو ورځې وروسته په یوه خبري ناسته کې د ټاکنو په کمیسیونونو کې د فساد د مخنیوي او سمونو په اړه ډېرې جدي څرګندونې وکړې او ولس ته یې په ټولو حکومتي ادارو کې د اصلاحاتو او د اداري فساد د له منځه وړلو ژمنې ورکړې، خو ټولو افغانانو ولیده چې د غني ټوله کاري دوره یوازې پر دروغجنو ژمنو، چیغو او بېځایه احساساتو ولاړه او تېره شوه.

همدا اوس د ۲۰۱۸ز کال پارلماني ټاکنو وښوده چې د پخوا په پرتله په ټاکنیزو کمیسیونونو کې د فساد کچه او د مدیریت ضعف څو برابره شوی دی. په تېرو نږدې ورځو کې د فساد ملي سروې دا په ډاګه کړه چې د ښاغلي غني په حکومت کې د فساد کچه د تېرېدو پر ځای لوړه شوې ده. د کرزي د واکمنۍ تر ختمېدو وروسته په تېرو اتلسو کلو کې لومړی ځل و چې د افغانستان نږدې لس ولایتونه د مخالفینو لخوا له سقوط سره مخ شول او په لومړي ځل د پلازمېنې امنیتي وضعیت په ټولیز ډول د ډېرو شدیدو امنیتي ګواښونو، بریدونو او بې شمېره ولسي وګړیو د شهید او ټپي کېدلو شاهد پاتې شو. همدا ډول په حکومت کې دننه د واک پر سر کړکېچونه هغه څه ول چې د کار کچه یې صفر ته را کښته کړې وه او فساد، اداري ګډوډیو او غیر قانوني او غیر مسلکي مقرریو ته یې زمینه برابره کړې وه. د نړۍ د ټولو پرمختللیو هېوادونو د پرمختګ راز د هغوی د ښو رهبرانو درلودل دي، داسې رهبران چې د ولس په رایو ټاکل کېږي، زموږ د هېواد د هر وګړي د رایې تر شا دا ارمان پروت دی او په دې هدف د ټاکنو په پروسه کې برخه اخلي.

نور یوه افغان ته هم روان وضعیت او نانډرۍ د زغملو وړ نه دي، ټول دا هیله لري چې نور یې په سترګو کې خاورې باد نشي، په ارادو یې ملنډې ونه وهل شي، د شعارونو غولوونکې لوبې پای ته ورسېږي، د کار، عدالت او د قانون د حاکمیت دوره پیل شي.

# چې دا دعا ده، که ښېرا؟!!

**لیکوال: رشید یوسفزی**
**ژباړه: شفیع الله تاند**

تېرو ورځو کې یو لوی مذهبي مجلس ته د هېواد تر ټولو وتلي مولوي صیب پخپله وینا کې وویل، امریکا خپل زوال ته په بېړه گامونه اخلي. د امریکې اقتصاد نور په ټپه درېدونکی دی او دفاعي ماهرین یې سر نیولي ناست دي چې په ټپه درېدونکي اقتصاد آغېزې به یې څومره له منځه وړونکې وي. د هغه ستر مشر مولوي صیب په وینا، دا د مسلمان ملت د ښېراوو پایله ده. د مولویانو سیاست په امریکې له لعنت پرته بل څه نه شي تر سترگو کېدی. یاد مشر په یو ځانله مجلس کې ماته وویل، خدای دې امریکا د واک له زوال وژغوري، ځکه زموږ د سیاسي ژوند اروا ور پورې تړلې ده، موږ خو د همدې مؤمنانو په تودو وینو د امریکې د دښمنۍ په پلمه رایې اخلو او پارلمان او نورو چوکیو ته رسېږو.

زموږ د کور څنگ ته جومات کې دیوبندي ملا د هرې جمعې په خطبه کې په ژړا ـ ژړا دعا کوي، وايي: «یا الله امریکا نېست و نابود کړې». د امریکې په اړه د نېست و نابود ترکیب په کثرت یادولو سره اوس شوخ هلکان ورته «نېست و نابود مولوي صیب» وايي.

یو بل شیخ القرآن صیب هره شپه د قرآني آیتونو تفسیر د امریکې په زوال او پرمختللي پیلوي، څو کاله وړاندې یو سپین ساده مقتدي تري وپوښتل: «د امریکې یادونه د قرآن په څو سورتونو کې شوې ده؟».

ټول امت د ځان هېرونې په نړۍ کې د امریکایي بربادۍ په فکر اخته دی، په سیاسي لوبه بوخت او پر مطبوعاتو برلاسي نجومیان هره ورځ له نویو فالونو او شمېرو سره د سیاسي علم رمل او د علم جفر په مرسته د امریکې د زوال تازه او ځانگړې وړاندوینې کوي.

په دوه زره لسم،یوولسم کې د اسلام آباد په یوه تینک ټېنک کې د درس لپاره روان وم، لاس کې مې انگرېزي ورځپاڼه کې د تېرې ورځې امریکایي بودیجې په اړه خبر و، درس کې مې د امریکې او افغان پالیسۍ په دوام او استحکام خبره وکړه.

د پوښتنو- ځوابونو پر مهال د پاکستانیو سخت دریځو جنگي گوندونو د بنسټگر جنرال حمیدگل لور عظمی گل په طنزي شکل وویل: «رشید صیب! تاسې د امریکایي پالیسیو په اړه له مبالغې هم پورته خبرې کوئ، امریکا له منځه تلونکې ده، د مسلمان امت ازار ور رسېدلی دی. وگورئ! د امریکې اقتصاد او دفاع یې څه حال دی».

ورځپاڼه کې د تېرې ورځې دفاعي بودیجې سرلیک مې ور وښووده ....۶۵۰ ملیارده ډالر! نړۍ کې په دویم نوبت دفاعي بودیجه د برتانیې وه ....۵۰ ملیارده ډالر. دا روسیه او چین خو یې په کتار کې هم نه ول. ومې پوښتله: آغلې! آیا د اسلامي امت د ښېرو او ازار پایله دا ده چې د یوې امریکې دفاعي بودیجه د ټولې نړۍ هېوادونو له ټولو دفاعي بودیجو ډېره ده؟!

۲۰۰۱ز کې د امریکې دفاعي بودیجه ۲۵۰ ملیارده ډالره وه چې د نړۍ له پېنځلسو وتلیو پرمختللیو هېوادونو یې د چین په ټولیز گډون ډېره وه. ورپسې په راتلونکي کال کې ۴۰ سلنه ډېره شوه. ۲۰۰۸ز کې یې د ټولې نړۍ له ټولې بودیجې نه زیاته شوه. پر عراق او افغانستان لگېدلي سلگونه ملیارده ډالر پکې نه دي حساب. سږ کال د امریکې دفاعي بودیجه ۶۳۹،۱ بیلیونه ډالره ده او ټوله بودیجه یې ۳،۸ کربه ډالره.

امریکا د نړۍ یوازنی هېواد دی چې ورسره د هوایي الوتکو دیارلس سمندري بېړۍ دي، خو نورې نړۍ سره یوه هم نشته.

د پاکستان دفاعي کارپوهانو د یو سینټ کام CENTCOM یا سنټرل کمانډ نوم اورېدلی دی او فکر کوي گوندې په ټول امریکایي پوځ برخمن دي. سینټ کام یوازې د منځنی ختیځ او یو څه د افریقایي او اسیایي هېوادونو لپاره جوړ شوی دی سربېره پر دې د بحرالکاهل لپاره PACAOM، د اروپا لپاره EUROCOM او د لاتیني امریکې لپاره NORTHCOM جلا ـ جلا عسکري اداري دي.

تېرو ورځو کې د پېنټاگان وتلیو روزل شویو ځواکونو Special Operation Forces د ژبې ماهرینو فارسي،عربي پوهو پوځونو په اړه مې یو راپور لوسته، کله مې چې د هغوی د ویلو او ادبیاتو په اړه د هغوی پوهه وکتله، د حیرانۍ برید راته نه معلومېده.

د یوه امریکایي ولسمشر دولتي الوتکې بېلگه په نړۍ کې نشته. سربېره پر نورو کمالونو یې په دې الوتکه کې د امریکې ولسمشر لپاره ځانگړې چوکۍ وي، که د سفر پر مهال دې الوتکه کې اور ولگېږي، یا کومه بله پېښه رامنځته شي، له دې چوکۍ لاندې یوه توکمه ده چې یوازې ولسمشر ته معلومه ده. ددې په کېکاږلو سره سم له واره یې چوکۍ له الوتکې بېلېږي، خپله یوه الوتکه ترې جوړېږي او ښاغلی ولسمشر روغ جوړ په امریکا کې یو ځانگړي ځای ته رسوي.

د Military Aid په شکل کې امریکا د پاکستان اسلامي جمهوریت (مجاهد!) پوځ سره هر کال ددې هېواد ۴۷ سلنه بودیجه پرېکوي. همدا شان په استخباراتي برخه کې یې ۶۲ سلنه بودیجه په غاړه اخلي. که دا مرسته پرې ودرول شي، نو د اردو لوړو افسرانو معاشونه به یې په ۲۰ ورځو کې ودرېږي.

خو مذهبي او جهادي کرامتونو والا په ضد دې چې ښېرې یې په امریکې لگېدلې دي، دا که یې د ښېرو پایله وي، نو د دعا هغه به یې څنگه وي؟!!

## د ژوند ورې لارښوونې

**جاکسون براون　　ژ/ سپین سهار**

۱۰۰ – هر څه دې چې له زړه غوښتل، ترې نهیلی نشې! څوک چې غټې هیلې لري، له هغوی ډېر ښه دي چې یوازې واقعیتونو ته ناست دي؛

۱۰۱ – یاد یې لره! هر څوک د ستاینې وړی دی؛

۱۰۲ – زامن دې وهڅوه، له شپاړس کلنۍ وروسته پس له وخته کار وکړي؛

۱۰۳ – څه چې لاسلیک کوې، لومړی یې په غور لوله! یاد یې لره غټ لاسلیک د څه ورکولو او وړوکی هغه د څه تر لاسه کولو نښه ده؛

۱۰۴ – نورو ته دویم چانس ورکړه، نه درېیم؛

۱۰۵ – بې ارزښته شیان لومړی وپېژنه، بیایې پرېږده؛

۱۰۶ – په غوسه کې هېڅه مکوه؛

۱۰۷ – ډاډه اوسه او پر ځان له باور سره خونې ته ور ننوځه؛

۱۰۸ – مینه ناک اوسه؛

۱۰۹ – خلک پرېږده چې ودې پېژني چې څه ته د ټینگې یې او څه ته نه یې؛

۱۱۰ – له «ولې؟» ډېره گټه وکړه؛

۱۱۱ – د خلکو ارزښت د هغوی له زړونو معلوم کړه، نه په بانک کې د هغوی له پرتې شتمنۍ؛

۱۱۲ – د هغه چا په څېر شه چې تر ټولو ډېر مثبت او خوځنده درته ښکاري؛

۱۱۳ – د لاس مینځلو د را څڅېدونکې بمبې جوړول زده کړه؛

۱۱۴ – هېڅ اندېښنه مکوه چې اولادونو ته دې ښه شیان نشې ورکولای، تر ټو ښه څه چې لرې ور یې کړه؛

۱۱۵ – لږ غوږ لرونکې شیدې وڅښه؛

۱۱۶ – د نوي گاونډي کره یو قاب خواږه د تیارولو له لیکلې لارښوونې سره وروړه؛

۱۱۷ – سره (توره) غوښه لږه خوره؛

۱۱۸ – د یوې سیمې څرنگوالی د هغې د خلکو له چلنده سنجوه؛

۱۱۹ – مالگه لږ خوره؛

۱۲۰ – پر سیاستوالو باور ونکړې؛

۱۲۱ – د هر ژوندي سري درناوی وکړه؛

۱۲۲ – داسې کارونه کوه، چې له ارزښتونو سره دې سر خوري؛

۱۲۳ – له مرگ و ژوند سره له تړلیو پېښو پرته هېڅه ته اندېښنه مکوه، ارام اوسه! هېڅه دومره مهم نه وي، لکه په پیل کې چې ښکاري؛

۱۲۴ – هر څه دې چې له لاسه کېږي، د خپل مشر لپاره یې تر سره کړه، دا به دې د ژوند تر ټولو ستره پانگونه وي؛

۱۲۵ – په تېرو تېروتنو دې مه ژاړه، مازې یې ترې زده کوه او مخ ترې اړوه؛

۱۲۶ – د ښوونځي د شاگردانو د لاسي کارونو په نندارتون کې گډون کوه او تل یو څه ترې را نیسه؛

۱۲۷ – مه پرېږده ټلیفون دې د ژوند ښې شېبې در خرابې کړي! ټلیفون ستا د کارونو د اسانولو لپاره دی، نه د هغه چا لپاره چې زنگ یې در وهلی؛

۱۲۸ – که چا ستایلې، له زړه «مننه/ خوښنه» ویل یې تر ټولو غوره ځواب دی؛

۱۲۹ – د ماشومانو خویونه پرېږده (له ځانه ماشوم مه جوړوه)؛

۱۳۰ – ښه بایلونکی اوسه؛

۱۳۱ – ښه گټونکی اوسه؛

۱۳۲ – پر نورو خندې ته نیوکه کوه (نه د خلکو تر مخ).



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولس ګرامه ماغزه؛ د جګړو د کلونو محک

ګل احمد «محبت»

دولس ګرامه ماغزه کتاب که په لومړي ځل سړی وګوري نو فکر کوي چې دا به د اعصابو او ماغزو په اړه کوم طبي څحقیق وي، ځکه د سړي تلوسه او سپنس ورسره پیدا شي چې دا اثر باید ولولي، خو کله چې د کتاب پاڼې پرانیزي او لړلیک ولولي نو کاملاً یې ګومان اپوته وخېژي، همدا چې د لړلیک موضوعات ولوستل شي سړی په ځان پسې دومره راکاږي چې له لومړی تلوسې یې دا څو چنده زیاته ده، د یوې سپېڅلې جګړې په نوم د یو مجهول جنګ په بیان کې دا هم له ذهنه نه وځي چې ولې دا اثر او دولس ګرامه ماغزه؟؟ د ماجرا او بدبمختیو په دې سفر کې سړي ته هله دا نومونه واضحه شي چې کله له پېښوره د ازاد شوي او فتحه شوي کابل شوق وکړي.
کله چې سړی په کابل کې د فاتحینو په منځ کې په ناڅاپي ډول را ایسار شي، له خبرو مخکې له موټره کوز کړی شي، په وهلو او د بولو زغروال ټانګ ته وخېژول شي، د ټوپکونو میلې ورته سیخې شي او د کونداغونو تر ګوزارونو لاندې راشي او کله چې له سړي د حکمتیا او سیاف د جرمونو بدله وغوښتل شي او دا تور هم پرې ورپورې شي چې تاسو له افغانستانه پښتونستان جوړوئ نو هله به ورته پته ولګي چې دولس ګرامه ماغزه څه معنا؟ دا نو هغه وخت څرګنده شي چې د وحشي ملېشو د سرلښکر مرستیال عبدالمجید روزی تفنګچه په لاس او د غاښونو په چیچلو درته ووایي چې: (میفامم که ادم سیاسی استی خود ته میګی که ده کله ام دوازده ګرام مغز اس ده کله مم دوازده ګرام مغز اس مارا خام کله میګفتنین، مالوم میشه که خام کله اس؟) خو د دولسو ګرامو مغزو کیسه همدلته نه خلاصېږي.
دولس ګرامه ماغزه په ژونده بڼه د افغانستان ژوندی تاریخ بیانوي، د دې اثر تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده چې هر څه د لیکوال د سترګو لیدلی حال د ی، ده هڅه کړې چې تر ډېره بریده د پېښو او واقعاتو لپاره کره او موثق دلایل وړاندې کړي چې ښې بېلګې یې د ډاکتر نجیب الله او اوو رهبرانو او د رهبرانو ترمنځ د لیکونو تبادلې دي، ډېر شیان حقایق وي خو موږ یې د یو شمېر خلکو له خولې نه شو اورېدای، د بېلګې په توګه: د دولس ګرامه ماغزه په څېر حقایق موږ د یو کمونست له خولې نه شو اورېدای خو که دغه حقایق موږ ته د ننګیال په څېر یو مجاهد بیانوي نو د واقعاتو په لا کره توب د ثبوت ټاپه وهي، خو د لیکوال ادبي جرائت او شهامت د ستایلو دی چې د هغه چا په اړه له حقایقو پرده پورته کوي چې د هغوی د ژوند فلسفه لا اوس هم د نورو پر مړینه ولاړه ده. د لیکوال دا جرائت د ستایلو دی چې د داسې یو چا په اړه هغه حقایق وایي چې ټوله ټولنه یې لا اوس هم کافر او د افغانانو قاتل ګڼي. د ډاکتر نجیب الله هغه لیکونه رابرسېره کوي چې د سولې او اسلام په نامه یې یو شمېر جهادي رهبرانو ته لیکلي. د ډاکتر نجیب الله هغه لیکنی او تیلفوني غوښتنې چې له یو شمېر مخورو افغانانو یې کړې دي چې راشئ د سولې په فضا کې واک په لاس کې واخلئ او د دې ولس د هوساینې لپاره کار وکړئ خو هر چا منفي ځواب ورکړی، د دې ټولنې پر وړاندې د ډاکتر نجیب الله په حقه ګڼل د بلا په خوله کې د ځان ورکول دي.
دولس ګرامه ماغزه ډېر په کره او دقیق ډول د افغانستان د جهاد د اوو رهبرانو شخصي او سیاسي ژوند خلکو ته د حقیقت په هنداره کې ورښیي، ایا د دوی مبارزه د اسلام لپاره وه او که د قدرت لپاره؟ دوی چې کوم شعارونه په پاکستان کې د اسلام په نوم او د اسلامي نظام د جوړېدو په پار ورکول ایا دا رښتیا وو؟ ایا د دوی د اسلام او کفر ټاپې د دین او مذهب لپاره وې او که نه د شخصي او ګوندي ګټو په خاطر؟ هغه استاد سیاف چې عربو به عمر ثالث یا درېیم عمر باله مبارزه یې د څه لپاره وه؟ هغه سیاف چې تقریر ته به یې عربو او عجمو ژړل او ده به ویل چې تر هغې د بنین سیوان د روغې جوړې ریل ګاډې زما په ککرې تېر نه شي افغانستان ته نه شي رسېدای خپله ژمنه یې عملي کړه؟ هغه استاد سیاف چې د یو زندیق او کمونست په نامه یې د کابل د څو ځله ورانېدو غوښتنه کوله اوس په څه حال کې دی؟
ایا جنرال دوستم مجاهد دی؟ هغه دوستم چې هم د ډاکتر نجیب الله نظام وخوړ او بیا یې ملېشه وو ځانونه د کابل فاتحین بلل او په یو او بل نوم یې پښتانه او مسلمانان ځورول. ایا دوستم په رښتیا خالد بن ولید دی؟ ایا حضرت صیب له زړه نه او د اسلام په خاطر دوستم ته خالد بن ولید ویل که د خپل واک د غځونې په پار یې دا کار کړی و. کله چې د جګړو په کشمکش کې دوستم ته کافر او مرتد وویل شول ایا دا هم د اسلام له نظره و؟ ایا استاد رباني په رښتیا د هېواد ولسمشر او رییس جمهور او که یو نشنلست و؟ په دولس ګرامه ماغزه کې د استاد رباني هغه خطونه او شفاهي ویناوې رابرسېره شوې چې ده خپلو ازبکو ته ویل د افغانستان په تاریخ کې یو چانس موږ ته په لاس راغلی، زه رییس جمهور یم، مسعود د دفاع وزیر او. . . ایا حکمتیا له لومړي سره همداسې مجهول سیاست درلود او یا په بار کې کوږ لرګی و او که اوس داسې شو؟ او ایا احمد شاه مسعود د اسلام لپاره مبارزه کوله او په رښتیا ملي قهرمان دی؟ دا ټول واقعیتونه او سپړنې په دولس ګرامه ماغزو کېږي.
بې له شکه چې په هېواد کې کمونستان او د روس غلامانو ناویلي ظلمونه کړي دي خو په خپله یو مجاهد وایي چې مجاهدینو په کابل کې داسې کارونه وکړل چې د ثور د اوومې ترو مخ یې ورسپین کړ، په دولس ګرامه ماغزو کې په څرګند ډول په کابل کې د مجاهدینو هغه ناویلي ظلمونه او وژنې بیان شوي چې سړي یې د ویلو لپاره هېڅ کومه ژبه او الفاظ نه لري. په دغه اثر کې په ښکاره ډول د مجاهدینو مبارزه د پاکستان او پنجاب په خوښه ګڼلې چې اوس یې هم موږ په خپلو سترګو ګورو او له همدې نادودې اوس هم رنځ وړو. کله چې مجاهدینو کابل فتح کړ نو د مسلمانانو په وینو یې ولمبوه، د دې اثر ترټولو لویه ښېګڼه دا ده چې لیکوال له خپلې مشاهدې او له ثبوت سره هغه څه رااخیستي دي چې په ولس کې خوله په خوله د مجاهدینو په اړه ویل کېږي.
د بېلګې په توګه کابل کې د سپیو له خوا د مړو جسدونه خوړل، د خلکو لوڼې له ځان سره بیول، پر هلکانو جنسي تېري کول، چور، لوټ او تالان کول، د مرکزي اداري نه شتون، په یو ښار کې په یو څو نومونو د خطبو ویل تردې چې خلکو د مجاهدینو په نظام ملنډې شروع کړې او دا خبره خوله په خوله شوه چې هفت خر تانه بګیرید یک ګاو مارا پس بدهید!!!
د لیکوال د خپلې مشاهدې دوه واقعې ډېرې په زړه پورې دي. وایي مجاهدیو یو څوک را ایسار کړی و او په کنداغونو یې واهه، ده ویل په دا خوله خوله مې ووهئ! وهونکي کرار شول، پوښتنه یې ترې وکړه. هغه ورته وویل په همدې خولې مې دعاګانې کړې چې خدایه مجاهدین کامیاب کړې ځکه مې اوس دغه حال دی. ترټولو تریخ او د دغو ظلمونو ثبوتي واقعیت خو لا دا چې په یوه څلور لارې کې هزاره ګانو یو لاروی را ایسار کړ، جېبونه یې ورته تش کړل خو د ده واسکټ یې خوښ شو، نو ورته یې وویل واسکټ وباسه! هغه ورسره پرتوګ او کمیس هم وویست او لوڅ لغړ یې شعارونه ورکول چې زنده باد اسلام او زنده باد مجاهدین او. . .
د اثر پر ټولو خوبیو سربېره چې به کیسه ییز ډول لیکل شوی او سړي د واقعیتونو په موندلو او اورېدو پسې ځان پسې راکاږي د طنز برخه یې لا خوږه ده، کله چې مجاهدینو کابل فتح کړ نو په وزارتونو یې لانجې شوې، ځکه نو په تنظیمي وېش کې نااهلو ته څوکۍ ورسېدې، کله چې د دوی یو وزیر وزارت ته ولاړ د یوې نجلۍ نوکان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې اورېده وليدل، نو په حيرت يې ورته وويل: دا نوکان دې د استنجا پر مهال نه په تکليفوي؟ ترټول خندوونکې خو لا دا چې کله مدير غفار د ترانسپورټ وزير شو ځان به يې د ترانسپورټ وزير مدير غفار معرفي کاوه، د طنز په برخه کې يې تر ټولو لويه خوبي دا هم ده چې په ترخو او دردوونکو حالاتو کې هم د طنز ژبه په کې کارول شوې ده، کله کله په ژړا کې هم سړی ته د قانع صيب (الله گل دانه دانه) او ښکنځلي خندا ورولي. کله چې احمد سينا د مرگ په خوله کې قومندان عبدل ته په دوزو او لافو سر شي نو سړي ته رحيم پوف راياد شي او د عبدل به پټ پټ له ځانه سره خاندي. د خوستيانو او پکتياوالو اصطلاحگاني لا هم په خوندور حالت ليکل شوي دي او چې په جبهه کې دي د هاشم خان واسکټ خبرن شي او ياران دې پرې ملنډې وهي. تر ټولو خوندور طنز خو لا دا چې استاد رباني له ډېره غمه او وېرې خپل پرتوگ چپه اغوستي و او قرض ورکه سياف ته ضامن تري گلبدين واخله او راشه بيا مې. . . واخله. د طنز په برخه کې د مجاهدينو او رهبرانو کاريکاتورونه رسمول هم يو ځانگړی او جلا کيف لري.

پر دومره ښېگڼو سربېره دولس گرامه ماغزه له يو شمېر کمزوريو او تېروتنو هم نه دي خلاص. سره له دې چې ژبه يې روانه، ساده او عام فهمه ده او په ښه صحافت چاپ شوی، يو شمېر گرامري تېروتنې په کې ليدل کېږي، د بېلگې په توگه په يو شمېر ځايونو کې يې يا گاني نه دي مراعت شوي چې سړی پرې خو څو ځله د جملې بيا بيا لوستو ته اړ کېږي.

# پیکره‌ی بی سر

مصطفی عمرزی

جامعه ي پشتون ها، از زماني که حضور شکوهند و محسوس تاريخي را در بيش از ۶۰۰ سال تاکنون، تداوم بخشيده است، از مزاياى آن حاکميت ها و رهبران خويش نيز مستفيد شده اند که نه فقط پشتون، بل همه پذير بودند.

پس از شهادت محمد داوود، مردم ما مانند پيکره ي بي سر، در حالي که بخش قابل ملاحظه جوامع اقليت ها تحت چتر تنظيم ها و احزاب چپي وراستي منسجم و جهت خواسته هاي قومي بسيج مى شدند، در خلاى رهبرى قومى قرار گرفتند. آنان با تعهدات ميان تهي و ناشي از بدفهمي و اشتباهات هر دو جانب چپى و راستى، در جايى افول کردند که رفقاى کمونيست (خلقى)، بدون کمترين زمينه هاي اجتماعي، با حماقت تمام، سهم و دارايي هاي قوم خويش را نيز بخشش مى کردند.

رفقاى خلقى با تيشه به ريشه ى بنياد هاى سياسى و اجتماعى ما، با شورويان، ستميان و پرچميان، خيانت هاي هايش را توجيه کرده اند. متاسفانه جناح ديگر با فرورفتن در اعماق اخوانيسم سياسى (در واقع تروريسم بين المللى) و تعهداتى که آنان را ناگزير و حتي غافل مي کردند بخشى از مردمان زير لواي شان، بخشي از جامعه ي پشتون هاي افغانستان اند و حقوق قومي نيز دارند، به ما آسيب زده اند.

دو جانب چپى و راستى، مردم ما را دچار بلايا ساخته اند. اينك در افول مردمسالارى توريدى، در جوي که براي اقليت ها، تنوع رهبرى مى سازند تا به گونه اي بحث ستيز قومي براى انحصار گرمتر شود، با چنين رويکرد هايى به بزرگ نمايى محور هايى نيز پرداخته اند که در همه ى آن ها، عداوت با ما به چشم مى خورند.

روند ستم ملى بالاى بزرگترين قوم افغانستان (پشتون ها) و ضياع حقوق آنان، از شتاب نمانده است. متاسفانه تحميل حاکميت هاى ائتلافى که با پشتوانه ى خارجى به مغز استخوان مملکت رسيده اند، روى اصل پشتون ستيزى نيز استوار مى باشند. اگر چنين نباشد، توزيع قدرت به اساس سهميه ى قومى، هرگز با اين انتقادات توام نمى شد تا با چشم داشت به حقوق اکثريت، بى خانمانى اجتماعى را به نفع مخالفان وسعت بدهند.

اين که بستر اجتماعى پشتون هاى افغانستان به شدت خشن شده است، در نبود رهبرى قومى نيز است که تا قبل از هفت ثور، وابسته به شخصيت ها ملى و پشتونى بود. مردم ما را با خلاى فکرى، به جبهه ى مخالفانى مى کشانند که به سهولت با تاديه ى اسلحه، آنان را قادر مى سازند به سوى بى عدالتى ها آتش بگشايند.

نياز ها براي رهبري واحد قوم پشتون، همانند سر براى اين پيکر عظيم اند. با ساخت اين تعقل، بيش از همه، توحيد ظرفيت هاي بشري ما جلو تشتت و بحران عظيم فکري را مى گيرد؛ زيرا گروهي را مخالفان مسلح و بعضى را مخالفان داخلى به انزوا کشانده اند؛ شماري را جهت منافع ديگران بسيج مي کنند و توده هاي کثير را در بي خانماني عظيم قرار داده اند تا با بلاتکليفي، گوشت دهنه ي هر سلاحي باشند.

در يک زمينه ى مدنى که از کثرت و تنوع قومى کشور يادآورى مى شود، شايد تجويز نسخه ى فرد محور، درست به نظر نيايد، اما در جامعه ى ما که زمينه ى مدنى نيز به ابراز وجود ابعاد منفى انسانى کمک مى کند، ديديم که اگر حول محور تبارى گرد نيايم، مردم ما که در گروه هاى مختلف قبيله يى، شهرى، روستايى، ايديالوژيک، درى زبان، پشتوزبان و جناح هاى متخاصم سياسى از چپى به راستى و از شمالى به جنوبى تقسيم مى شوند، چنانى که در پس منظر تاريخى از يک بازوى واحد عمل کرده اند، محروم مى مانند.

البته ادعا ها براى داعيه ى قومى ما کم نيستند، اما مجريان اين ادعا ها با کمترين آگاهى از تنوع تبارى ما و لغزش هاى فرهنگى، سياسى و اجتماعى خويش، بيشتر نماينده گان بخش هايى اند که با چند نفر گردآمده اند. مثلاً دفاع در دايره ى زبان پشتو، ميليون ها پشتون درى زبان يا غيرپشتو زبانى را از احاطه ى وحدت دور مى کند که اگر به سطح منطقه توجه کنيم از هند تا آمو و از کشمير تا اصفهان، تاريخ و تنوع فرهنگى دارند. در بُعد ديگر، عدم لحاظ مذهبى بودن مردم ما، آن فعالان پشتون را دچار مصيبت مى کند که هرچند از قوم مى گويند، اما طرز برداشت اکثريت مذهبى يا روستايى ما از داعيه ى آنان، به شرک قوم پرستى تعبير مى شود. افزون بر اين، توجه بر نزاکت هاى اجتماعى که در اين کشور، در کنار بيش از ۲۰ ميليون پشتون از مجموع سى ميليون افغان، بيش از ۳۰ زبان و ۵۰ قوم ديگر داريم که نه فقط فرهنگ ها و هموطنان شمرده مى شوند، بل افغان، برادر، پدر، مادر، خواهر و شرکاى زنده گى ما بودند و هستند.

در مثال ديگر، هراس هاى ناشى از تشتت آراى پشتون ها، به اين درک کمک مى کند که بر اثر تقسيم آن ها، تضعيف مى شويم. محور تبارى کمك خواهد کرد مردم ما حول منافع مشترک، اعم از دري زبانان و پشتوزبانان، جوامع روستايي و بخش قابل ملاحظه ي جامعه ي ديني ما، به ويژه زماني که سرنوشت افغانستان (انتخابات)در ميان است، گردهم آيند تا حداقل در کمترين توقع، براي دشمنان خويش، راي ندهند.


رهبري واحد ما، نبايد تنها به مفهوم بسيج پشتون ها براي تامين منافع قومي، بهانه شود. چنان چه آوردم، جامعه ي پشتون هاي افغانستان با تنوع، خلط و حضور جغرافيايي عظيمي که در ۳۴ ولايت افغانستان دارند، بر اثر ملکيت ها و تعلقات قومي و خويشي با ديگران، بدون غيرپشتون ها به راحتى نخواهند توانست به عدالت اجتماعى برسند؛ اما اگر ذهنيت هاي غير پشتوني حاکم باشند و از فرصت هاي تجاوز بيگانه، استفاده کنند، مردم ما حق دارند تحت رهبري واحد قومي، سمت خود را با درک حقوق انساني خويش جهت روشن شدن موضع دوست و دشمن، واضح سازند و اجازه ندهند بر اثر شرايط، وقتى فقط بحث انتخابات در ميان است، از تفاهم صحبت کنند، اما زماني که از امتحان گذشتند، دشمنى ها را به نام حقوق، توجيه مى کنند.

بار ها ديديم که در خوان ما شريک شدند، اما پس از بُرش آن، از نان ما به نام خويش مى خورند. افراد زيادى را مى شناسيم که از سوى پشتون ها وارد دولت شده اند و بر ضد ما، سوء استفاده مى کنند.

رهبري قومي را در صورتي که جامعه ي افغانستان در کل در مسير آرامش، رفاه و امن طي طريق کند و نيازي به موانع نباشد، حداقل در شرايط کنوني و مقطعه يي براي رهايي ظرفيت هاي بشري خويش از چنگال سياست ها و برنامه هاي مذمومى مي خواهيم که زيان آن ها نه فقط ارمغان فقر و اندوه قوم پشتون بوده اند، بل با نبود وحدت فکري همتباران ما، کشور را تهديد مى کنند.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دانش خپرندویې ټولنې نوي چاپ کړي کتابونه



د تر لاسه کولو ځای
سالنگ وات، انحصارات، د پخواني ملي سینما څنگ ته،
دانش کتابپلورنځی- کابل
دیجیټل: 0783835153 مطبعه: 0700449298
بریښلیکونه: spinsahaar@gmail.com | danishdigital2020@gmail.com
میوند جاده، پخته فروشي کوڅه، خلیل مارکیټ، دانش کتابخانه
احمد شاه بابا مینه (ارزان قیمت) شهید داود خان څلور لارې، داود خان او پي ته

مخامخ، بولان مارکیټ، کتابستان
میرویس میدان (کوټه سنګي)، مینه بار مارکیټ، استقلال کتابخانه- کابل
کندهار: کرور کتابخانه او صداقت کتابخانه
ننګرهار: خټیځ خپرندویه ټولنه او مومند خپرندویه ټولنه- جلال آباد
پکتیا: روحاني خپرندویه ټولنه او ما شاء الله کتابخانه- ګردیز
خوست: ژوندون کتابخانه او رنا کتابخانه
مزار شریف: کتابفروشي حاجي عبدالقیوم


د افغانستان د نشه‌يي توکيو د مخنيوي وزارت ډايرېکټر جنرال محمد عثمان فروتن وايي: «سږ کال په افغانستان کې ۸۹ سلنه افيون په هغو سيمو کې کرل شوي چېرته چې د ترهګرو او وسله‌والو فعاليتونه زيات دي». دی وايي، سږ کال افغان چارواکيو ۴۳۳ ټنه نشه‌يي توکي نيولي او د نشه‌يي توکيو د قاچاق په تور نږدې د څلور زره شکمنو کسانو پر ضد د هېواد د قوانينو له مخې عمليات شوي دي.

په افغانستان کې د کوکنارو کر او د افيونو او نورو نشه‌يي توکيو نړيوال مارکيټ ته قاچاق يوه نړيواله ستونزه جوړه شوې. ددې درې واړو ګاونډيو هېوادونو تر منځ ددې ستونزې د مخنيوي لپاره مرسته او د معلوماتو شريکول يو ښه اقدام دی، خو تر څو چې د کوکنارو د کر او د افيونو د پيداوار لاملونو ته پام ونشي دا ستونزه به هواره نشي.

امريکې د تېرو ۱۷ کلونو په لړ کې په افغانستان کې د کوکنارو د کر پای او د نشه‌يي توکيو د مخنيوي لپاره افغانستان ته ۸ ميليونه ډالر بوديجه ورکړې، خو سره له دې هم د کوکنارو کر ختم نشو او نه په دې لړ کې کېدونکيو هڅو نتيجې ورکړې دي...





**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**